

# د اسلام په لوري لنډ لار ښود او دليل

## د نوي مسلمان لپاره د ټولګي تعليمي نصاب

عبدالله الراجحي الخيرية
Abdullah Alrajhi Foundation
مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah

# د اسلام په لوري لنډ لار ښود او دليل

د نوي مسلمان لپاره د ټولګي تعليمي نصاب

Osoul Center
www.osoulcenter.com

ح جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، 1445 هـ

أصول ، مركز
الوجيز: تعليم صفي للمسلم الجديد باللغة البشتو. / مركز أصول -
ط 1. .- الرياض ، 1445 هـ
126 ص ؛ 29.7 x 21 سم

رقم الإيداع: 1445/19267
ردمك: 978-603-8438-10-7

Osoul Center
www.osoulcenter.com

- د مرکز لخوا ددې اصدار تصمیم ترتیب کړی شوی دی
- دا مرکز ددې اصدار چاپول یا خپره ول چې په هره مسیله سره وي اجازت ورکوي په دې شرط چې هیڅ ډول بدلون به په کې نه کوي او خپل اصلي مصدر ته به په کې اشاره کوي
- د چاپولو په صورت کې باید د کره والی معیار په نظر کې ونیول شي کوم چې د مرکز لخوا د اعتبار وړ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیلیزه

الحمد لله الذي هدانا للإسلام، ودلّنا إلى سبل السلام، وبعث فينا خير الأنام، صلى الله عليه وسلم تسليمًا كثيرًا. أما بعد: موږ خوښ یو چې تاسو ته دا کورس وړاندې کوو چې ریښتینی دین (د اسلام دین) معرفي کوي او د هغه علمي او عملي اړتیاوې بیانوي، د دې لپاره چې ستا د دین په پېژندلو کې ستا لپاره چابې او د اسلام د احکامو په پلي کولو کې درسره مرسته کوونکی شي.

دا کورس تاسو ته دا شیان وړاندې کوي:

**۱- د اسلام د دین او لویو اړینو موضوعاتو په اړه یې لنډ وضاحت.**

**۲- قرآن کریم ته یوه عمومي کتنه، او د قرانکریم د ځینو لنډو سورتونو د معناګانو تفسیر.**

**۳- د فرضي عبادتونو د احکامو لنډ تشریح.**

**۴- په اسلام کې د معاملاتو، رواجونو او اخلاقو په اړه د مهمو احکامو لنډ توضیح.**

د دې درسي فصلونه د تعلیمي پلان له مخې ویشل شوي چې د هر فصل درسونه شپږ ورځو باندې ویشل شوي، د هر درس موده ټاکل شوې ده. دا مضمون په یوه تعلیمي بڼه هم جوړه شوې ده چې یو شمیر فعالیتونه او تمرینونه پکې شامل دي، کوم چې د نوي مسلمان سره د معلوماتو د یادولو او په هغې باندې پوهېدلو کې مرسته کوي، سربېره پر دې د هر درسي فصل په پای کې د ارزونې پوښتنې دي ترڅو زده کوونکي وکولی شي د هغه د پوهې کچه و ارزوي. په دې مضمون کې یو شمیر بڼې شاملې دي چې هدف یې د نوي مسلمان د تعلیمي پروسې په ښه کولو او د کورس په پوهیدو کې مرسته کول دي، چې هغه په لاندې ډول دي:

دا رنګ د دې معلوماتو اهمیت ته اشاره کوي، او د لوست په پای کې د اړونده پوښتنې احتمال ته اشاره کوي.

دا یادښت په متن کې د یوې کلمې تعریف او توضیح ته اشاره کوي.

بحث وکړه

دا پراګراف د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ د بحث موضوع ته اشاره کوي، چې موخه یې د زده کوونکي د فکر او استدلال ملکې ته وده ورکول دي.

اضافي لوستل

د درس په وړته موضوع کې د بډایه کولو مواد، د اوسول مرکز لخوا تولید شوي.

تمرین

یو داسې عملي کړو وړو ته شامل دي چې په فکر کولو یا د یوې مسلې راوېستلو او یا په یادولو باندې ولاړ وي.

**نو په دې په زړه پورې تعلیمي سفر کې تاسو ته ښه راغلاست وایو..**

# تعلیمي پلان

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **لومړۍ ورځ** | |
| لومړۍ ناسته | پیلیزي:<br>۱. پېژندنه او خبرتیاوې<br>۲. وجودي پوښتنې: (مونږ څوک یو؟ مونږ چیرته ځو؟)<br>۳. د هدایت نعمت | ۱۰ دقیقې |
| | اسلام:<br>۱. اسلام څه شی دی؟<br>۲. زه ولې مسلمان شم؟<br>۳. د اسلام نړیوالتوب<br>٤. اسلام هغه ګناهونه ختموي چې مخکې شوي دي<br>٥. اسلام وروستی دین دی<br>٦. د محمد صلی الله علیه وسلم پیغمبري<br>٧. په اسلام کې د غوروالي معیار<br>٨. د دین زده کړه<br>٩. د اسلام رکنونه | ۳۰ دقیقې |
| | زه څنګه مسلمان شم؟:<br>۱. دوه ګواهیاني (شهادتونه)<br>۲. د دواړو ګواهیانو [شهادتینو ] معنا.<br>۳. د ګواهیانو لوازمات | ۲۰ دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | اودس څنګه وکړم؟ (عملي) | ۲۰ دقیقې |
| | لمونځ څنګه وکړم؟ (عملي) | ۲۰ دقیقې |
| | سورت الفاتحه یاد کړه او په معنی یې پوه کړه | ۲۰ دقیقې |

د لومړۍ ورځې یادداښت

..........

..........

..........

..........

..........

..........

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
| --- | --- | --- |
| | **دویمه ورځ** | |
| لومړی ناسته | اېمان څه شی دی؟<br>د اېمان رکنونه (ستنې):<br>١. په الله تعالی اېمان لرل.<br>٢. په ملاېکو اېمان لرل.<br>٣. (د الله تعالی له طرفه) په رالېږل شویو کتابونو اېمان لرل.<br>٤. په پیغمبرانو اېمان لرل.<br>٥. د اخرت په ورځ باندې اېمان لرل.<br>٦. په تقدیر باندې اېمان لرل.<br><br>د اېمان مېوې (فایدې) | ٢٠<br>دقیقې |
| | قرآن کریم:<br>١. قرآن کریم څه شی دی؟<br>٢. قرآن کریم د روح او عقل غذا ده.<br>٣. قرآن کریم د ژوند تګلاره ده.<br>٤. په قرآن کریم کې د پیغمبرانو کیسې. | ٢٠<br>دقیقې |
| | د اخلاص سورت یادول او د هغه په معناګانو ځان پوهول | ٢٠<br>دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | بنده ګي:<br>١. د بنده ګۍ معنا.<br>٢. د بنده ګۍ د قبلېدو شرطونه.<br>٣. د بنده ګۍ ډولونه. | ١٥<br>دقیقې |
| | پاکي<br>د پاکۍ ډولونه:<br>١. حسي پاکي: اصل په شیانو کې پاکي ده، ناپاک شیان، د ناپاکۍ لیرې کول، د حاجت رفع کول.<br>٢. معنوي پاکي: د بې اودسۍ لرې کول، د بې اودسۍ لرې کولو لپاره استعمالېدونکې اوبه. | ٤٥<br>دقیقې |

د دویمې ورځې یادانښت

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **درېمه ورځ** | |
| لومړی غونډه | اودس څرنګه وکړم؟ (نظري)<br>١. د اوداسه معنا.<br>٢. اودس څرنګه وکړو؟<br>٣. د اودس ماتوونکي شيان.<br>٤. د اودس واجبوونکي شيان.<br>٥. په جورابو باندې مسحه کول. | ٤٠<br>دقيقې |
| | د سورة الفلق يادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ٢٠<br>دقيقې |
| | **دمه** | |
| دويمه غونډه | څرنګه غسل وکړم؟<br>١. د غسل معنا.<br>٢. څرنګه غسل وکړو؟<br>٣. غسل کله واجبېږي؟<br>٤. هغه څه چې جنب ته يې کول حرام دي.<br>٥. تيمم. | ٢٠<br>دقيقې |
| | حيض او نفاس:<br>١. د زنانه ښځه د وتونکي وينې ډولونه.<br>٢. دحيض او نفاس احکام. | ٢٠<br>دقيقې |
| | د سورة الناس يادول او د هغه په معنا باندې ځان پوهول | ٢٠<br>دقيقې |

**د درېمي ورځې يادښت**

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **څلورمه ورځ** | |
| لومړۍ ناسته | د سورة الکافرون یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | خرنګه لمونځ وکړم؟ (نظري):<br>۱. لمونځ څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې لمونځ کوو؟<br>۳. د لمانځه مرتبه.<br>۴. د لمانځه شرطونه.<br>۵. پنځه لمونځونه.<br>۶. څرنګه لمونځ وکړو؟ | ۴۰ دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | لمونځ:<br>۱. د لمانځه د کیفیت پوره والی.<br>۲. د جمعې لمونځ. | ۶۰ دقیقې |

## د څلورمې ورځې یاداښت

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| **پنځمه ورځ** | | |
| لومړۍ ناسته | د الکوثر سورت یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | زکات:<br>۱. زکات څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې زکات ورکوو؟<br>۳. څرنګه زکات ورکړو؟ | ۲۰ دقیقې |
| | روژه:<br>۱. روژه څه شی دی؟<br>۲. ولې روژه نیسو؟<br>۳. د روژې ماتوونکې.<br>٤. هغه څوک چې د هغوی لپاره په رمضان کې بوزه کېدل روا دي. | ۲۰ دقیقې |
| | حج:<br>۱. حج څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې حج کوو؟<br>۳. حج په چا فرض دی؟ | ۱۰ دقیقې |
| **دمه** | | |
| دویمه ناسته | د العصر سورت یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | جامې (کالي):<br>۱. اصل په جامو کې.<br>۲. حرامې جامې. | ۳۰ دقیقې |
| | خوراک او څښاک:<br>۱. اصل په خوراک او څښاک کې.<br>۲. حرام خوراک او څښاک.<br>۳. د شرعي حلالې (ذبحې) شرطونه کوم دي؟<br>٤. په رستورانتونو او دوکانونو کې د حلالولو حکمونه. | ۳۰ دقیقې |

**د پنځمې ورځې یادښت**

.................................................

.................................................

.................................................

.................................................

.................................................

.................................................

.................................................

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| **شپږمه ورځ** | | |
| لومړۍ ناسته | مالي راکړې ورکړې:<br>۱. مالي راکړې ورکړې څه دي؟<br>۲. اصل په مالي راکړو ورکړو کې.<br>۳. حرامې مالي راکړې ورکړې. | ۳۰ دقیقې |
| | اخلاق:<br>۱. اخلاق په اسلام کې.<br>۲. د ښایسته اخلاقو فضیلت.<br>۳. په اسلام کې د اخلاقو ډګرونه. | ۳۰ دقیقې |
| **دمه** | | |
| دویمه ناسته | د یادوو شویو سورتونو تکرار. | ۳۰ دقیقې |
| | د اوداسه او د لمانځه د طریقو تکرار. | ۳۰ دقیقې |

د شپږمې ورځې یاداښت

# د نصاب موضوګاني



لومړی فصل

## د اسلام دین


١ اسلام او سترې پوښتنې ١٦

٢ اسلام څه شی دی؟ ٢٠

٣ زه څنګه مسلمان شم؟ ٢٨

٤ ایمان ٣٢




دویم فصل

## قرآن کریم


١ قرآن کریم وپېژنه ٤٠

٢ د لنډو سورتونو تفسیر ٤٦



دریم فصل

# عبادتونه


١ بنده ګي ٥٦
٢ پاکوالی ٦٠
٣ اودس ٦٤
٤ غسل ٧٠
٥ ځینې هغه حکمونه دي چې مسلماني ښځې لپاره ځانګړي دي ٧٤
٦ لمونځ ٧٨
٧ زکات ٨٦
٨ روژه ٩٠
٩ حج ٩٤




خلورم فصل

# اسلامي حکمونه


١ جامې (کالي) ١٠٢
٢ خوراک او څښاک ١٠٦
٣ مالي راکړې ورکړې ١١٠
٤ اخلاق (ښایسته خویونه) ١١٤



## لومړی فصل

# د اسلام دین







# لومړی لوست

١ اسلام او ستري پوښتنې

٢ اسلام څه شی دی؟

٣ زه څنګه مسلمان شم؟

٤ ایمان







## لومړی لوست

# اسلام او سترې پوښتنې

**پیلیزه**

**انسانانو ته د انسان له وجود سره تړلې پوښتنې رامنځ ته کېږي، نو د خپلې موضوع په حقیقت، د هغه د راتګ سرچینه، د هغې د علت او د پای په اړه پوښتنې کوي. او اسلام دغو پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړي دي:**

**لومړۍ پوښتنه:**

### مونږ څوک یو؟

اسلام انسان داسې تعریفوي چې دا د الله تعالی له ډېرو مخلوقاتو څخه دی، الله تعالی هغه ته پر ډېرو مخلوقاتو فضیلت ورکړی، او دې ته یې د خپل ژوند په اوږدو کې د هغه د مطلوب کارونو د ترسره کولو لپاره ډېر مخلوق یې ورته ظبانديې په وچه او سمندر کې سواره کړي دي، او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زیاتو باندې غوره کړي دي، په غوره کولو ډېرو سره) (اسراء: ۷۰).

او الله تعالی په انسان کې یوشان والی اېښودلی دی له:

- ملایکو سره د هغوی په پاکوالي او بنده ګۍ کې
- شیطانانو سره د هغوی په انکار او نافرمانۍ کې.
- او حیواناتو سره د خپلو هېلو او شهوتونو په پوره کولو کې.

او په هغه کې د خیر او شر دواړو لپاره چمتوالی اېښودلی، او هغه ته یې ورته ورکړې چې د خیر او شر ترمنځ پرې توپیر کولی شي؛ لکه فطرت او عقل

او هغه یې ازاد، خود مختاره ګرځولی، او د خپل واک او کړنو باره کې به ترې پوښتنه کېدلی شي.

ملایکې: د الله تعالی د مخلوق څخه یو مخلوق دی، الله تعالی د رڼا څخه پیداکړي، پالل شوي، تابع کړی شوي، عزتمند بنده ګان دي، د الله تعالی نافرماني نه کوي او څه امر چې ورته وکړی شي کوي یې، د هغوی شمیر باندې له الله تعالی پرته بل هېڅوک نه پوهېږي

## دویمه پوښتنه

### مونږ ولې او د کوم ځای څخه راغلي یو؟

اسلام دا بیانوي چې د انسان شروع د پیدایښت د ختې څخه شوې، الله تعالی ادم -علیه السلام- د ختې نه پیدا کړی دی، او هغه د ټول بشریت پلار دی، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ﴾ (او بېشکه مونږ انسان د ختې د خلاصې (بېلابېلو ځایونو څخه راټولې شوې) څخه پیدا کړی دی) (المؤمنون: ۱۲ ) او د دې انسان د پیدایښت مقصد د الله تعالی بنده ګي ده، په داسې حال کې چې الله تعالی د دوی د پیدایښت څخه بې نیازه دی، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي) (الذاریات: ٥٦ ).

آدم

الله تعالی مونږ ته په قرآن کې د
هغه د پیدایښت کیسه بیان کړې
او دا چې څنګه شیطان ورسره
دښمني پیل کړه، د سورت البقرې
د آیتونو (۳۰-۳۹) تفسیر وګورئ.

## بحث وکړه

**د اسلام له داخلېدو مخکې او وروسته د خپل وجود د مفهوم په اړه خپل نظر پرتله کړئ:**

.......................................................................

.......................................................................

.......................................................................

## درېیمه پوښتنه

### مونږ چېرته ځو؟

قرآنکریم فرمایي چې هر انسان به په دې دنیا کې مړ کیږي او د هغه په مرګ سره د کار کولو پړاو پای ته رسیږي، او د حساب او بدلې ورکولو مرحله پیل کیږي، الله تعالی فرمایلي دي: (بېشکه ته هم مړ کېدونکی یې او بېشکه دوی (هم) مړه کېدونکي دي - بیا بېشکه تاسو به د قیامت په ورځ د خپل رب په وړاندې یو تر بله جګړه کوئ) (الزمر: ۳۰-۳۱) نو کله چې انسان مړ شي داسې مرحلې ته انتقالیږي  چې د هغه څخه یکې د هغه د دین په اړه پوښتنه کېدلی شي، او د هغه په کړنو به ورته بدلې ورکولی شي، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾ (هر ساه لرونکی د مرګ (خوند) څکونکی دی او یقینا همدا خبره ده چې تاسو ته به د قیامت په ورځ ستاسو ثوابونه پوره (پوره) در کړی شي، نو څوک چې له اور (د جهنم) نه لرې کړی شو او جنت ته داخل کړی شو، نو یقینا هغه کامیاب شو او دنیایي ژوند یواځې د غولېدلو سامان دی) (آل عمران : ۱۸٥ ). کله چې د قیامت ورځ راشي نو الله تعالی به مړي له قبرونو څخه د قضاوت او ثواب لپاره راپاڅوي، نو مومنانو ته به باغونه او کافرانو ته به د جهنم اور په بدل کې ورکړل شي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ﴾ همداسې مونږ تا ته (دا) عربي قرآن وحي کړو د دې لپاره چې ته ام القرى (مکه) وویروې او هغه څوک چې د دې ګېر چاپېره دي او ته دوی د جمع کېدلو له ورځې نه وویروې چې هېڅ شک په کې نشته، یوه ډله به په جنت کې وي او بله ډله به په دوزخ کې وي) (الشورى:۷ ).



### د هدایت لورینه (نعمت):

د هدایت لورینه (نعمت): څوک چې د خپل پیدایښت په حکمت پوه شي، او د هغه انجام چې خلک یې د قیامت په ورځ انتظار کوي، نو په دې به یې پوخ یقین پیداشي چې تر ټولو لوی نعمت چې الله تعالی یې خپلو بندګانو ته ورکوي، د حق دین او د نیکو اعمالو ته د لارښوونې نعمت دی. له همدې امله الله تعالی خپلو بندګانو ته په لمانځه کې امر کړی چې له هغه څخه مستقیمې لارې ته د لارښوونې غوښتنه وکړي کومه چې د اسلام دین دی چې د الله تعالی رضا ته رسېدونکی ده.

**بحث وکړه**

**د ځمکې جوړول یو له هغو پړاونو څخه دی چې انسان یې په خپل ژوند کې ترسره کوي، او د دې لوی کار د سرته رسولو لپاره الله پاک خپل طبیعت دې ته چمتو کړی ترڅو دا رول ترسره کړي ... دا بیان کړه چې انسان څرنګه کولی شي چې پرته له نورو مخلوقاتو دا ځمکه اباده کړي؟**

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

**له مرګ څخه وروسته د مخلوق د برخلیک د معلومولو ځینې عملي اغېزې ذکر کړئ؟**

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۱ اسلام څرنګه انسان په ټولو مخلوقاتو باندې غوره کړی؟

..........

..........

۲ د انسان د پیداښت هدف څه دی؟

..........

..........

۳ د پیداښت د پیل کیسه قرآن کریم ولې په تفصیل سره بیان کړی؟

..........

..........

۴ کله چې انسان مړ شي نو داسې یوې مرحلې ته انتقال شي چې د هغه نه پکې د هغه د دین په اړه پوښتنه کیږي، او د هغه په عملونو بدلې ورکول کیږي.

سم ◯ ناسم ◯

د انسان د پیدایښت هدف د ځمکې آبادول او برابرول دي ترڅو پکې ژوند وکړي.

سم ◯ ناسم ◯

۵ وروسته له دې چې تا د انسان د پیداښت په هکله اسلامي مفهوم ولوست:

دا بیان کړه چې تاسو په کومه اندازه احساس کوئ چې هغه ستاسو د طبیعت او داخلي احساساتو سره موافق دی.

..........

..........

..........

..........

..........



# دویم لوست

# اسلام څه شی دی؟

**سریزه**

**اسلام: هغه دین دی چې الله جل جلاله په دې سره محمد - صلی الله علیه وسلم - رالېږلی دی، او دا د هغه څه غزول دي چې پخواني پیغمبرانو راوړي وو. د هغه اساس پر دې دی چې د عبادت مستحق معبود یو دی هیڅ شریک نه لري، او هغه الله جل جلاله دی، د هغه په پاچاهۍ کې د هغه لپاره هیڅ کوم مرستندوی نشته، او د هغه د بنده ګانو ترمنځ یې څوک واسطه هم نشته. خو زه ولې باید اسلام قبول کړم؟ او آیا دا دین د ټولو خلکو لپاره دی او که یوازې د عربو لپاره خاص دی؟ او پیغمبر یې څوک دی؟ او آیا بل پیغمبر شته چې د دې نه به ورسته راشي؟**

## زه ولې مسلمان شم؟

**کیدای شي ځینې خلک پوښتنه وکړي: زه ولې باید مسلمان شم؟**

**جواب یې دا دی چې: زه باید د ځینو سببونو له وجې مسلمان شم چې له هغې څخه ځینې یې دا دي:**

لومړی: د اسلام دین هغه دین دی چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو لپاره غوره کړی، او د دې نه پرته بل هیڅ دین هم د چا څخه نه قبلېږي، الله تعالی فرمايلي: ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ (او څوك چې له اسلام نه پرته (بل) دین ولټوي، نو هېڅكله به هم له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په آخرت كې له تاوانیانو څخه دى) (ال عمران: ۸۵). دویم: اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی، او په ټولو پیغمبرانو په ایمان لرلو باندې امر کوي، او د دوی ترمنځ هیڅ توپیر نه کوي. الله تعالی فرمايلي: تاسو ووايئ: مونږ په الله تعالی ایمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او د هغوی اولادې ته نازل کړی شوي دي، (او مونږ ایمان راوړی دی) په هغه څه چې موسی او

عیسی ته ورکړې شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) پیغمبرانو ته ورکړې شوي دي، مونږ په دوی کې د هیڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه الله تعالی حکم منونکي یو. ( البقره: ۱۳۶). او د پیغمبرانو ترمنځ اختلاف په هغو قوانینو کې دی چې د بنده ګانو په کارونو پورې اړه لري، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾(مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرره کړې ده) (المائدة: ۴۸). یعني: الله تعالی د هر یو امت لپاره یو دستور مقرر کړی چې هغه ته خپلې فیصلې کوي، او یوه لاره ده چې په هغې سره الله تعالی ته ځان نږدې کوي، نو د هر دین والا لپاره خاص حکمونه او خاص دستورونه دي چې د هغوی سره مناسب دي، لیکن د عقیدې له وجې، د ټولو پیغمبرانو عقیده یوه ده. بیا الله تعالی د خپلو پیغمبرانو او رسولانو وروستنی پیغمبر راولیږه نو په هغه سره یې د پیغمبرانو لړۍ ختمه کړه، او د هغه په قانون سره یې اسماني قانونونه ختم کړل، نو د اسلام نه پرته بل هیڅ دین هم د چا څخه نه قبلوي. دریم: په اسلام کې ننوتل په دنیا کې د نیکبختۍ او په اخرت کې د خلاصون لار ده، نو په آخرت کې به هیڅ څوک نه خلاصیږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم دعوت ورته رسېدلی وي مګر چې په هغه یې ایمان راوړی وي او د هغه تابعداري یې کړې وي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾﴾ (او څوك چې له اسلام نه غیر (بل) دین ولټوي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی). ( آل عمران: ۸۵). او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « په هغه ذات مې قسم دی چې د محمد روح د هغه په لاس کې دی، زما د دعوت په اړه د دې امت یهودي او یا نصراني وانه وري، او بیا مړ شي، او زما په رسالت ایمان رانه وړي نو دا کس به د دوزخ له څښتنانو څخه وي». (مسلم روایت کړی ۱۵۳). څلورم: بېشکه اسلام زما لویو پوښتنو ته زړه ښیوونکي ځوابونه ورکوي: زه ولې دنیا ته راغلی یم؟ د کوم ځای څخه راغلی یم؟ او له مرګ څخه وروسته به چیرته ځم؟

پنځم: اسلام داسې یو دین دی چې فطرت سره برابر دی، د لوی ارزښت په پیل سره چې هغه د الله تعالی توحید دی، او په هغو ادابو ختمېدونکی دی چې نیکو برابرو اخلاقو ته ښوونه کوي.

## بحث وکړه

**اسلام څرنګه د ټولو پیغمبرانو دین کېدلی شي؟**

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

## د اسلام له ځانګړتياوو څخه:

اسلام د نورو دينونو څخه په ځينو ځانګړتياوو سره ځانګړی دی، او د هغه سترې ځانګړتياوې دا دي:

## ۱ اسلام نړيوال دين دی

د اسلام دين يوازې په عربو پورې خاص نه دی، بلکې دا هغه دين دی چې الله تعالی د ټولو انسانانو لپاره غوره کړی، او له دې وجې نه الله تعالی خپل پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ته وېلي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ﴾ (او مونږ ته نه يې لېږلی مګر د عالمونو لپاره رحمت) (أنبياء: ۱۰۷). نو بېشکه الله تعالی پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ټولو خلکو لپاره عام رحمت ګرځولی، دوی ته د ايمان لار ورښايي، او خپل شريعت يې په خلکو باندې د رحمت له کبله د ټولو شريعتونو څخه پراخه ګرځولی.

**فايده**

**اسلام د خلکو عادتونو او رواجونو ته درناوی کوي او هغوی په دې نه مجبوروي چې خپل رواجونه دې بدل کړي مګر هغه څيز چې د اسلام د شعايرو او ښوونو مخالف وي.**

## ۲ اسلام مخکني ګناهونه بخښي

کله چې يو انسان په رښتني توګه اسلام ومني، نو بېشکه الله تعالی د پراخه مهربانۍ او رحمت خښتن دی نو هغه ته ټول مخکني ګناهونه بخښي، او دا د اسلام د ښېګڼو څخه دي. الله تعالی خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ويلي: ﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ﴾ (ته هغو کسانو ته ووايه چې کفر يې کړی دی، که چېرې دوی منع شي، (نو) دوی ته به د هغو (ګناهونو) بخښنه وشي چې مخکې شوي دي). (الأنفال: ۳۸). او يو سړی راغی غوښتل يې چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته مسلمان شي خو لېکن دا شرط يې کېښوده چې دې ته د ده مخکني ګناهونه وبخښل شي، نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم زيری ورکړ او ورته يې وويل: «ايا ته نه پوهېږې چې اسلام مخکني تير شوي ګناهونه له منځه وړي؟» مسلم روايت کړی (۱۲۱).

## ۳ اسلام وروستی دین دی

الله تعالی اسلام د پخوانیو آسماني قوانینو د سلسلې ځخه گرځولی، او د قیامت د قایمېدو پورې یې د ټولو مخلوقاتو لپاره د دین په توگه غوره کړی، نو د ځمکې په سر د اسلام نه پرته بل حق دین نشته، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ (او څوک چې له اسلام نه پرته (بل) دین ولټوي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانیانو څخه دی) (آل عمران: ۸۵).

### بحث وکړه

**تاسو هغو کسانو ته څرنگه ځواب ورکوئ چې ادعا کوي چې اسلام د عربو لپاره ځانگړی دین دی؟**

## د اسلام پیغمبر څوک دی؟

مسلمان دا عقیده لري چې بېشکه محمد - صلی الله علیه وسلم - د ټولو پیغمبرانو وروستی دی کوم چې الله تعالی ټولو خلکو ته رالېږلی و، چې هغوی یوائې د الله بنده ګی ته راوبلي، او دا چې د هغه نه وروسته بل پیغمبر نشته، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴾ (محمد (ﷺ) ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار ندی او لیکن د الله رسول دی او د نبیانو (د لړۍ) ختمونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی) (الاحزاب: ۴۰).

## د دین زده کړه:

- په مسلمان باندې واجب دی چې د خپل دین هغه اساسي څېزونه زده کړي کومو ته چې اړتیا لري، تر څو د خپل رب بنده ګي په پوهې سره وکړي.
- پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دین باندې د ځان پوهولو په اړه ترغیب ورکړی، نو فرمایلي دي: "الله تعالی چې چا ته د خیر اراده وکړي نو په دین کې پوهه ورنصیب کوي" امام بخاري روایت کړی (۷۱).
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د شرعي علم زده کړه جنت ته د ننوتلو لار ده، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "څوک چې په داسې لاره روان شو چې علم یې پکې لټاوه، الله تعالی به ورته د دې په وجه جنت ته لاره اسانه کړي". امام مسلم روایت کړی (۲۶۹۹).

**اضافي لوستل**

د دې لپاره چې د محمد - صلی الله علیه وسلم - د ژوند په اړه ښه پوه شې د محمد رسول الله په نوم کتاب ولوله، کوم چې په (أصول بعدة لغات عالمية) اصول په نړیوالو ژبو ستهور کې موندلی شي.

د کتاب راښکته کولو (ډاونلوډولو) لپاره بارکوډ سکین کړئ



ډېر داسې کتابونه شته چې له هغو څخه مسلمان د خپل رب د عبادت لپاره د خپل دین احکام زده کولای شي، او د دې غوره کتابونو د لاسته راوړنې لپاره باید له متخصصینو لارښوونه وغوښتل شي.

## په اسلام کې د غوروالي معيار:

الله تعالی د خپلو بندګانو تر منځ د غوروالي لپاره د ايمان او تقوا معيار ټاکلی دی، نو د مسلمانانو تر منځ توپير د دوی د ايمان په پياوړتيا کې دی، نه د دوی په شکل، نه د دوی په نسب، نه د دوی په رنګ او نه د پيسو پر اساس، الله تعالی فرمايلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ﴾ (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي ياستی، او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولې ياستی، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنی، بېشکه د الله تعالی په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله تعالی ښه پوه، ښه خبردار دی) (الحجرات: ١٣ ). او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "اې خلکو! بېشکه ستاسو رب يو دی، او پلار مو يو دی، خبردار! عرب په عجم او عجم په عرب باندې، سور په تور او تور په سور باندې غوره والی نه لري مګر په پرهېزګاری سره". بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی (۴۷۷۴).

## د اسلام رکنونه:

**د اسلام دين په پنځه رکنونو ولاړ دی:**

په هر مسلمان باندې لازم دی چې په دې پنځه رکنونو پابندي وکړي تر څو يې اسلام برابر شي، ځکه چې په دې رکنونو کې په يو کې هم کوتاهي ستا اسلام ته ضرر رسوي.



## د ارزونې پوښتنې

١ وروسته د دې نه چې تا دا ويډيو کلېپ وکتلو (د مسلمان نوی ژوند Muslim's new life ) د هغه څيز په اړه کې خبرې وکړه چې تا په اسلام باندې نور هم مضبوطوي:

د ويډيو کلېپ لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

٢ د دين هغه اساسات کوم دي چې يو مسلمان يې بايد زده کړي تر څو د الله تعالی بنده ګي په هغه شکل وکړي کوم چې هغه ورته امر کړی؟

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

٣

د اسلام دین دې لارښوونو ته شامل دی:

- أ) اخلاقي.
- ب) علمي.
- ج) عملي.
- د) ټول سم دي.

د اسلام د رکنونو شمېر:

- أ) ٦
- ب) ٥
- ج) ۴
- د) ٣

٤

وروسته له دې نه چې الله تعالی بنده ته په اسلام کې د داخلیدو توفیق ورکړ، نو په هغه باندې لازم دی چې د دین هغه اساسات زده کړي د کومو په وجه چې وکولی شي د الله تعالی بنده ګي وکړي..

- سم
- ناسم



## دریم لوست

# زه څنګه مسلمان شم؟

**سرېزه**

د نوي مسلمان لپاره تر ټولو په زړه پورې شېبې چې هغه یې نشي هېرولی، د دوو شهادتونو په ویلو سره په اسلام کې د داخلېدو شېبه ده، په دې اعلان سره هغه د ټولو نه مخکې د خپل ځان لپاره دا اعلانوي چې سبا ته به هغه بل حوک وي، او هغه له دې شیبو وروسته د حق د پېژندنې او په هغه د مضبوطېدو په لور لومړې ګامونه پورته کړل. او په دې درس کې مونږ د شهادتېنو (د وو ګواهیانو) په معنا او د هغو په اړتیاوو ځانونه پوهه وو.

## دوه ګواهیانې:

الله تعالی په اسلام کې د ننوتلو لپاره کلید (چابی) د دوو ګواهیانو ویل ټاکلی دی، او هغه دا دي: أشهد أن لّا إله إلا الله. وأشهد أن محمدًا رسول الله. پدې معنا چې زه ګواهي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نشته. او ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی.

## د دوو ګواهیانو څه معنا ده؟

**لومړی: د لا إله إلا الله د ګواهۍ ورکولو معنا**

**د (أشهد ألا إله إلا الله) معنا:** یعنې زه پوخ یقین لرم چې داسې بل څوک معبود نشته چې د بنده ګۍ لائق وي مګر یوازې الله تعالی دی.

**او په دې ګواهۍ کې دوه شیان شامل دي**

**لومړی**
د الله تعالی پرته له بل چا نه د خدایتوب نفي کول

**دویم**
الله تعالی لره د خدایتوب ثابتول

د اسلام د دین اصل چې د ټولو پیغمبرانو دین دی: یوازې د الله تعالی عبادت، او له هغه پرته په هر هغه شي کفر کول دي چې عبادت یې کیږي. الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ﴾ (او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). (الأنبیاء: ۲۵).

په هیڅ صورت کې روا نه دی چې د الله جل جلاله پرته د بل چا پر خدایتوب ایمان ولرئ، او په هر ډول عبادت باندې له الله تعالی پرته بل چا ته نږدې کیدل روا نه دي.

## دویم: د محمد رسول الله د ګواهۍ ورکولو معنا

**د (أشهد أن محمدًا رسول الله) معنا دا ده:** یعنې زه پوخ یقین او عقیده لرم چې بېشکه محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر دی، او هغه د ټولو پیغمبرانو وروستی پیغمبر دی، نو د هغه نه وروسته بل پیغمبر نشته، او بېشکه د هغه پیغمبري د ټولو خلکو لپاره ده، الله پاک فرمایلي دي: ﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾ برکتونو والا دی هغه ذات چې نازل کړی یې دی فرقان - فرق کوونکی په مابین د حق او باطل کې - پخپل بنده باندې د دې لپاره چې د عالمونو (انسانانو او پیریانو) لپاره وېره ورکوونکی شي. (الفرقان: ۱).

### تمرین

وروسته لدې نه چې ته د (محمد رسول الله) په نامه کتاب ته راوګرځېدلې، د محمد صلی الله علیه وسلم په اړه راتلونکې پېژندګلوي معلومات ولیکه:

د کتاب د بارولو (ډاونلوډ کولو) لپاره بارکوډ سکن کړه



نوم یې:

نسب یې:

پیدایښت یې:

روزنه یې:

پیغمبري یې:

هجرت یې:

وفات یې:

## د دوو گواهیانو اړتیاوې:

یوازې د دوو شهادتونو تلفظ کافي نه دی، بلکې د هغو په مانا پوهېدل او په هغه څه عمل کول چې د دې دواړو د وجې نه لازمېږي. د (له الله پرته بل معبود نشته) د گواهۍ نه په هغه څه باندې کفر کول لازمیږي چې له الله تعالی پرته یې بنده گي کېږي، او یوازې په الله تعالی باندې ایمان لرل او یوازې هغه د عبادت وړ گڼل، او د هغه په بنده گۍ کې اخلاص کول دي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا﴾ (نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو یقیناً ده ډېره مضبوطه کړۍ ټېنگه ونیوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته) (البقرة: ۲۵٦). د (محمد د پیغمبرۍ) د گواهۍ په وجه په انسان دا لازمېږي چې: د هغه تصدیق وکړي په هغه څه کې چې هغه پرې خبر ورکوي، او د هغه تابعداري وکړي په هغه څه کې چې هغه پرې امر کوي او یا ترې منع کوي، او د الله تعالی بنده گي به نه کیږي مگر په هغې طریقې چې هغه راوړې وي.

### بحث وکړه

**ولې په (لا إله إلا الله) گواهۍ ورکول د نورو معبودانو چې عبادت یې کېږي کفر کول لازمېږي؟**

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

له خپلو ملگرو سره د هغو دلایلو شمیره شریک کړه چې ولې ځیني خلک د ډول ډول خدایانو اختراع کولو ته لیواله دي او خلک د دوی عبادت ته رابلي..



د هغو عقلي دلیلونو څخه چې د الله تعالی پېغمبر؛ ابراهیم علیه السلام پرې خپل قوم ته دلیل وړاندې کړ کله چې یې ترې پوښتنې کولې: (ایا تاسې د هغه څه بنده گي کوئ چې تاسو یې (پخپله) تراشئ) (الصافات: ۹۵)

۱ کله چې ته پوه شوې چې الله تعالی د دې کاېناتو معبود دی نو ښېښکه دا په اسلام کې د ننوتلو لپاره کافي دی:

سم ناسم

د محمد رسول الله د پېغمبرۍ په ګواهۍ کې دا کافي ده چې هغه ومنم او تابعداري يې ونه کړم:

سم ناسم

۲ وروسته د دې نه چې تا دغه وېډيو کلېپ ولېدلو (محمد څوک دی؟ Who is Muhammad? ) د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د لويۍ په اړخونو خبرې وکړه، او هغه لارې چارې وخېږه چې د اسلام د ښمنان يې د هغه د سپېڅلي انځور د خرابولو لپاره کاروي.

د وېډيو کلېپ لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

۳ د دې پاڼې «Jesus in Quran - jesusandquran.com» په کتلو سره، د محمد صلی الله علیه وسلم له عیسی علیه السلام سره د تړاو په اړه خبرې وکړه.

د وېب سایټ د لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................

.............................................................................



ځلورم لوست

# ايمان

**سريزه**

کله چې يو مسلمان د قرآن کريم تلاوت کوي يا لمونځ کوي يا د الله تعالی نوره بنده ګي کوي، نو د آرام او ډاډ احساس کوي، دا احساس ځينې خلک د زړه سکون او نيکبختۍ ډيرو لوړو مرتبو ته رسوي کوم چې د ايمان د هغو اثارو څخه دي چې انسان دې ته اړ باسي چې يو مسلمان خپله ټوله زنده ګي د الله تعالی لپاره وګرځوي داسې چې د هغه اوامر پکې په مينه او محبت سره سر ته رسوي، او د هغه له نواهيو څخه په مطلقې تابعدارۍ سره ځان ساتي. او په دې لوست کې به مونږ د ايمان د مفهوم، رکنونو او ګټو په اړه ځان پوه کړو.

## ايمان څه شی دی؟

ايمان: په زړه او ژبه باندې هغه ربښتيا ګڼل چې د الله تعالی له طرفه راغلي، او په مينه، اميد، او وېرې سره هغه ته زړه ته تسليمول، او په دې طريقې سره په اندامونو عمل کول دي، الله تعالی فرمايلي: (اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو پر الله ايمان راوړئ او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې هغه په خپل رسول باندې نازل کړی دی او پر هغو کتابونو چې له ده نه يې مخکې نازل کړي دي، او څوک چې کفر وکړي په الله او د هغه په ملايکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځ، نو يقيناً هغه ګمراه شو په ډېرې لرې ګمراهی سره). (النساء: ١٣٦).

**بحث وکړه**

د اميد او وېرې ترمنځ څه فرق دی؟

........................................

........................................

........................................

........................................

## د ایمان ستنې (رکنونه):

**ایمان په شپږو ستنو ولاړ دی، او هغه دا دي:**

١ په الله تعالی ایمان لرل: نو مسلمان په الله تعالی او د هغه په نومونو او صفتونو باندې ایمان لري، او په دې خبره چې بېشکه هغه د دې سترو کاینتاتو پالونکی دی، او هغه یوازې د دې کاینتاتو پیداکوونکی دی، مالک د ټولو هغو شیانو دی چې په دې کې دي، او د هغوی د چارو سمبالوونکی دی، خپلو بنده ګانو ته روزي ورکوونکی دی، او په دې خبره ایمان او یقین لري چې له هغه پرته داسې بل خدای نشته چې د بنده ګۍ حقدار وي، او یقینا هغه د کمال په صفتونو ستایل شوی.

٢ په ملایکو ایمان لرل: نو مسلمان د عزتمندو ملایکو په شتون ایمان لري، او یقینا الله تعالی هغوی پیداکړي دي، او هغوی د الله تعالی بنده ګي کوي، څه امر چې ورته کوي په هغه کې یې نافرماني نه کوي، او د هغوی په هغو صفتونو او دندو ایمان لري کومې چې په قرآن او حدیث کې راغلي.

د کتاب او سنت نه مراد: قرآن کریم او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیثونه دي، چې دا دواړه په اسلام کې د قانون جوړوني دوه اصلي سرچینې ګڼل کېږي.

٣ په رالېږل شویو کتابونو ایمان لرل: نو مسلمان په دې ایمان لري چې بېشکه الله تعالی د خپل طرفه خپلو بنده ګانو ته په خپلو پېغمبرانو کتابونه را نازل کړي، هغه یې د خلکو د لارښوونې او هغوی ته د خپل دین د طریقو د ښودلو لپاره را نازل کړي، او د هغو کتابونو څخه دا داي چې الله تعالی په موسی بن عمران علیه السلام باندې تورات را نازل کړي، او زبور یې په داود علیه السلام، او انجیل یې په عیسی ابن مریم علیهما السلام، او قرآن کریم یې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی، او بېشکه قرآن کریم د ټولو وروستنی او د ټولو محافظ دی.

٤ په ټولو پېغمبرانو علیهم السلام ایمان لرل: نو مسلمان په دې باندې ایمان لري چې بېشکه الله تعالی ټولو قومونو ته خپل پېغمبران لېږلي، او هغوی یې په معجزاتو باندې مضبوط کړي کومې چې د دوې په رېښتینولی دلالت کوي، د دې لپاره چې مسلمانانو ته زیری ورکړي، او کافران ووېروي، او خپل قوم ته د دین طریقې وربنايي، او چا ته چې لېږل شوی باید تابعداري یې وکړي، او محمد صلی الله علیه وسلم د هغوی اخرنی او وروستنی پېغمبر دی.

٥ د اخرت په ورځ ایمان لرل: نو مسلمان د قیامت په ورځې ایمان لري، او په دې چې بېشکه الله تعالی به په دغه ورځ مړي د خپلو قبرونو څخه راوباسي، او د هغوی په کړنو به ورسره حساب کتاب کوي، او په هغې به ورته بدلې ورکوي، نو ځینې د دوی نه به جنت ته ننوځي، او ځینې د دوی به جهنم ته ننوځي.

٦ په تقدیر باندې ایمان لرل: نو مسلمان په ټولو هغو څه ایمان لري چې په دې دنیا کې کېږي که خیر وي او که شر دا ټول د الله تعالی په تقدیر باندې دي، او په دې ټولو الله تعالی پوهېږي، او په لوح محفوظ کې یې لیکلي، او په دې دنیا کې هغه څه کېږي چې الله تعالی یې غواړي.

اللوح المحفوظ: دا هغه کتاب دی چې الله تعالی پکې ټول هغه څه لیکلي کوم چې د قیامت د ورځې پورې د بنده ګانو لپاره مقرر شوي.

### الله تعالی سره شرک کول:

د الله تعالی نه پرته په بل چا کې د خدایتوب عقیده لرل، او یا بل چا ته د بنده ګۍ په څه شي باندې ځان نېږدې کول، او دا ډېره لویه ګناه ده، او غټه سرغړونه ده، چې الله تعالی یې نه بخښي، لکه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا﴾ (بېشکه الله تعالی نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې یې وغواړي او څوک چې له الله سره شریک ونیسي، نو یقینًا هغه ډېره لویه ګناه راجوړه کړله) (النساء: ٤٨).

تقدير: دا په ازل کې د الله تعالی له طرفه د څيزونو اندازه کول دي، او د هغه پوهه په دې چې دا به په معلوم وختونو کې، په ځانګړې کيفيت واقع کېږي.

## د ايمان ګټې (ثمرې):

**د ايمان ډېرې ګټې دي، له هغو څخه:**

- د نفس ډاډ: ايمان د مومن روح ته ډاډ ورکوي، له الله او د هغه له تقدير څخه راضي وي، او له الله تعالی پرته بل له هېچا څخه نه وېرېږي.
- د الله تعالی پېژندنه: نو مومن خپل رب پېژني داسې پېژندنه چې د هغه تعلق د خپل رب سره زياتوي، نو د هغه نومونه، صفتونه او کړنې پېژني.
- الله تعالی لوی ګڼل: نو مومن چې کله خپل رب وپېژني د هغه لويي او عزت پکې نور هم زياتېږي، او هومره يې مينه او اميد زياتېږي، او په هماغه اندازه له هغه څخه يې وېره هم زياتېږي.
- په بنده ګانو باندې د الله تعالی د مهربانۍ احساس کول: بېشکه الله تعالی هغوی ته پېغمبران رالېږلي او هغوی ته يې کتابونه رالېږلي، د دې لپاره چې خلک د حق دين لورې ته هدايت شي.
- د ملايکو سره مينه کول: ځکه چې هغوی د الله تعالی بنده ګي او تابعداري کوي.
- د پېغمبرانو سره مينه کول: بېشکه الله تعالی هغوی د دې لپاره غوره کړي چې خلکو ته د هغه پېغام ورسوي.
- په بنده ګۍ کې زيار ويستل: نو هر څومره چې ايمان قوي کېږي هغومره د انسان بنده ګي زياتېږي.
- ښاېسته ژوند: نو مومن په هغه څه راضي وي چې الله تعالی هغه ته مقرر کړي وی، او په دې هم پوهېږي کله چې دنيا کې هغه ته کوم مصيبتونه رسېږي د هغه لپاره د درجو لوړوالی دي، او د دې د ګناهونو رژوونکي دي، لکه څرنګه چې دا د هغو نعمتونو اميد لري کوم چې الله تعالی په اخرت کې مومنانو لره تياري کړي.
- په دنيا باندې نه دوکه کېدل: ځکه چې دنيوي ژوند موقت دی، او دا د اخرت د تل پاتې ژوند لپاره لاره ده.
- د دروغو او خرافاتو معلومول: ځکه چې ايمان ډېرې دغه خرافات راښکاره کوي او باطلوي يې.
- جنت ته ننوتل: نو هغه د تل پاتې نعمتونو کور دی کوم چې هېڅکله نه ختمېږي، او بېشکه الله -تعالی- دغه د خپلو مومنانو بنده ګانو لپاره ځانګړی کړی دی.

### زما يادداښت

د ايمان ځيني ګټې چې په اسلام کې له داخلېدو وروسته مو احساس کړې دي وليکئ:

۱ په رسولانو د ایمان راوړلو معنا دا ده چې ته یوازې د محمد - صلی الله علیه وسلم- په رسالت ایمان ولرې:

◯ سم ◯ ناسم

۲ د دې ویډیو کلیپ (Who is Allah?) (الله څوک دی؟) له لیدو وروسته د خالق د عظمت په اړه خبرې وکړئ..

د ویډیو کلیپ لیدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

۳ دا ویډیو کلیپ وګورئ (The Six fundamentals of faith) (د عقیدې شپږ اساسات) او هغه اغیزې لیست کړئ چې تاسو یې د ایمان له شپږو رکنونو څخه په هر یو کې د خپل ایمان څخه ترلاسه کوئ.

د ویډیو کلیپ لیدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

# شخصي ارزونه

| م | تعلیمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ١ | آیا تا د انسان د وجود په اړه د پوښتنو ځوابونه وپېژندل؟ | | | | |
| ٢ | آیا ته کولی شې د اسلام معنا په ساده ډول تشریح کړې؟ | | | | |
| ٣ | آیا ته اسلام ته د داخلېدو طریقه پېژنې؟ | | | | |
| ۴ | آیا ته د دوو گواهیانو په معنا پوهېږې؟ | | | | |
| ۵ | آیا ته کولی شې د دوو گواهیانو لازم خیزونه شرحه کړې. | | | | |
| ٦ | آیا ته د ایمان رکنونونه (ستنې) پېژنې؟ | | | | |
| ٧ | آیا ته په الله تعالی د ایمان لرلو معنا شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ٨ | آیا ته په ملايکو د ایمان لرلو معنا شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ٩ | آیا ته په رالېږلو شویو کتابونو د ایمان لرلو معنا شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ١٠ | آیا ته په پیغمبرانو د ایمان لرلو معنا شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ١١ | آیا ته کولی شې د آخرت په ورځ د ایمان لرلو معنا شرحه کړې؟ | | | | |
| ١٢ | آیا ته کولی شې په تقدیر د ایمان لرلو معنا شرحه کړې؟ | | | | |
| ١٣ | آیا ته پوهېږې چې دوه گواهیانې څنگه په سمه توگه تلفظ کړې؟ | | | | |
| ١٤ | آیا ته پوهېږې چې نوی مسلمان څنگه خپل ایمان پیاوړ کړي؟ | | | | |
| ١٥ | آیا ته په زړه کې د اسلام له دین سره د مینې احساس کوې؟ | | | | |



## دویم فصل

# قرآن کریم







## د فصل لوستونه:

١ قرآن کریم وپېژنه

٢ د لنډو سورتونو تفسیر







لومړی لوست

# قرآن کريم وپېژنه

**پيليزه**

کله چې الله جل جلاله پېغمبران د هغوی د قومونو د بلنې لپاره راولېږل، نو دوی ته يې داسې معجزې ورکړې چې په وسيله يې خپل قوم ته د نبوت حق ثابت کړي، خو د پېغمبرانو معجزې د هغوی په مړينې سره پای ته رسېدلې، پداسې حال کې چې د اسلام د پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم- لپاره الله تعالی ښکاره معجزه د هغه د قوم او د ټولو خلکو لپاره راليږلې ده چې هغه (د الله غالب کتاب - قرآن کريم- دی) چې د ساتلو ذمه واري يې الله تعالی د هغه له مرګ نه وروسته هم کړې ده. او په دې لوست کې مونږ د قرآن کريم ځينې ادبونه او فضيلتونه پېژنو.

## قرآن کريم څه شی دی؟

قرآن کريم د الله - تعالی - هغه کلام دی چې په خپل پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم - يې نازل کړی دی، او هغه د الله - تعالی - وروستی رالېږل شوی کتاب دی، د هغه نه وروسته بل کتاب نشته.

نازل شوي کتابونه: دا هغه کتابونه دي چې الله تعالی په خپلو پېغمبرانو رانازل کړي دي.
مسلمان په دې کتابونو باور لري او يقينا چې دا د الله تعالی لخوا نازل شوي دي، او دا چې الله تعالی پدې سره وينا کړې ده خرنګه چې د هغه د شان سره مناسب وي، او لدې کتابونو څخه ځينې دا دي:
زبور: کوم چې په داود - عليه السلام - نازل شوی، تورات: کوم چې په موسی - عليه السلام - نازل شوی، انجيل: کوم چې په عيسی - عليه السلام - نازل شوی، او د زمانې په اوږدو کې په دې کتابونو کې تحريف او بدل شوي دي.

## د قرآن کريم د لوستلو فضيلت:

- پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې د الله تعالی له کتاب څخه يو حرف ولوست، نو دې لره په دې باندې يوه نېکي ده، او يوه نېکي په لس چنده ده، زه نه وايم: (الم) يو حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی، او ميم حرف دی». ترمذي په سننو کې په صحيح سند سره روايت کړی ( ۲۹۱۰ شمېره حديث).
- او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «قرآن کريم ولولئ، ځکه چې دا به د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو لپاره سپارش کوونکی وي» مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی (۸۰۴ شمېره حديث).

## قرآن کریم د روح او عقل غذا ده:

**قرآن کریم د انسانانو عقلونه او روحونه په برابره توګه مخاطب کړي، نو هغه عقل لدې لارو مخاطب ګرځولی:**

- د قضیو په اړه عقلي استدلال، الله تعالی فرمايلي: (که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله تعالی نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالک؛ پاک دی له هغو خبرو چې دوی یې بیانوي) (الأنبياء: ۲۲).
- د عقل په کار اچوونې ته رابلل او همدارنګه په دلیلونو او معجزو کې فکر کول، الله تعالی فرمايلي: ﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ﴾ (الله تعالی همداسې ستاسو لپاره آيتونه بيانوي د دې لپاره چې تاسو ښه فکر وکړئ) (البقرة: ۲۱۹).
- د هغه چا بدې بيانول چې د عقل څخه استفاده نه کوي، او فکر پرې نه کوي، الله تعالی فرمايلي: ﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾ (آيا ته ګومان کوې چې په رښتيا د دوی زياتره اوري، يا له عقل نه کار اخلي، دوی نه دي مګر په شان د څارويو بلکې دوی د لارې په لحاظ زيات ګمراه دي) (الفرقان: ۴۴).

**او د دوی روحونه او احساسات د دې لارې نه په ګوته کوي:**

- د احساساتو څرګندول، او روښانه کول، او په ډېرو حالاتو کې د هغې انځورول، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ﴾ (او په خلکو کې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره داسې مينه کوي لکه له الله تعالی سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلک) دي) (البقرة: ۱٦۵).
- د انساني احساساتو په اړه يادونه، او د هغې د ښه او بد پايلو بيان، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ (او خامخا لازما به ته له مومنانو سره په دوستۍ کې تر ټولو خلکو زيات نږدې هغه کسان مومې چې ويلي يې دي: مونږ نصرانيان يو، دا ځکه چې په دوی کې په رښتيا عبادت کوونکي عالمان او راهبان دي او دا ځکه چې واقعا دوی تکبر نه کوي) (المائدة : ۸۲).
- دعوت کې په مهرباني او نرمۍ باندې امر، الله تعالی فرمايلي: ﴿ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ ۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ﴾ (د خپل رب لارې ته په حکمت او ښکلي نصيحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طريقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي) (النحل: ۱۲۵).
- د احکامو په آيتونو کې ايماني معناوې شاملې دي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ﴾ (له دې نه مخکې تاسو هم همداسې وئ، بيا پر تاسو باندې الله تعالی فضل وکړ) (النساء : ۹۴).
- د هغو کلېمو کارول چې په نفس باندې اثر کوي، او ريښتنې احساسات راپاروي، الله تعالی فرمايلي: ﴿أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ﴾ (آيا تاسې دا خوښ نه ګڼئ چې الله تعالی تاسې ته بخښنه وکړي) (النور: ۲۲).

او کله نا کله عقلي او روحي دواړه خطابونه په يو ايت کې سره يوځای کوي، د عقل سره مباحثه کوي او قناعت ورکوي، په عين وخت کې احساسات راپاروي، الله تعالی فرمايلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾ (اې خلقو! تاسو د الله هغه نعمتونه ياد کړئ چې په تاسو شوي دي، ايا له الله نه غير (بل) خالق شته، چې تاسو ته له اسمان او زمکې نه رزق درکوي؟ نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، نو کوم اړخ ته تاسو ګرځولی کېږئ). (فاطر : ۳).

## بحث وکړه

**تا د اسلام نه مخکې کوم آیتونه مطالعه کړي؟ او په تا باندې یې اثر څرنګه و؟**

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

### قرآن کریم د ژوند تګلاره ده:

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، هغه ذات چې ټول خلک یې پیدا کړي دي، او هغه په دوی باندې د دوی د ځانونو څخه هم ډیر خبر دی، او ډیر خبر دی په هغه څه چې دوی ته ګټه او یا ضرر رسوي، لدې امله الله - تعالی - قرآن کریم -دټولو رالیږل شوو کتابونو روستی کتاب- د تګلارې کتاب ګرځولی، کوم چې د خلکو لپاره د هغوی د ژوند تګلاره جوړوي.

**او دا خبره د لاندې ټکو څخه څرګندیږي:**

**د درملنې پراخوالی:** دا د انساني ژوند درملنه په درېو برخو کې کوي: شخصي، کورنی او ټولنیزه.

**د هغه د مضوعاتو شمولیت:** او هغه د عقایدو، عبادتونو، عادتونو، اجتماعي او مالي اړیکو، عقلي، احساساتي او بدني اړخونو، بین المللي اړیکو، د جنګ او سولې وختونو، او نورو ته شاملیږي.

**انصاف:** دا داسې کتاب دی چې په هر حال کې په عدل او انصاف باندې امر کوي، حتا د دښمنانو سره هم، او په هر شکل باندې د ظلم نه منع کوي.

**قرآن کریم د خلکو لپاره د هغوی د ژوند تګلاره جوړوي، او هغوی ته دهغوی حقونه او دندې بیانوي، او هغوی ته د هغوی حقونه او په هغوی چې څه لازم وي ورښایي، په خورا نرمۍ سره چې د هغه قانون د هر وخت او ځای لپاره مناسب وي.**



پر مسلمان باندې لازمه ده چې د قرآن کریم تلاوت کولو او د هغه د احکامو یادولو باندې ټینګار وکړي

## په قرآن کریم کې د پېغمبرانو کيسې:

قرآن کریم د پخوانیو پېغمبرانو او د هغوی د قومونو له کېسونو نه ډک دی، له آدم علیه السلام نه په پېل سره، او ورپسې نوح، هود، صالح، شعیب، ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، یعقوب، موسی، عیسی علیهم السلام، او همدارنګه نور پېغمبران او رسولان. قرآن کریم د دوی کېسې د حکمتونو پر اساس ذکر کړې، چې ځینې يې دا دي:

- د دې خبرې بیان چې د ټولو پېغمبرانو دین یو دی، چې اساس يې د الله تعالی یووالی دی.
- د محمد - صلی الله علیه وسلم - تسلي او کلکوالی، د هغه سره چې خلکو څه کړي وو له هغه نه مخکې پېغمبرانو سره هم شوي وو.
- د مسلمانانو د تسلۍ لپاره چې دوی ته څه مصیبت او سختیانې رسېږي د الله تعالی عزتمندو بنده ګانو ته د دوی نه مخکې رسېدلي دي.
- د دې څخه عبرت اخیستل، ځکه چې دا حقیقي او واقعي کیسې دي.

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په خپله مناسبه خانه کې د تړاو له مخه کېږدئ:

- د الله تعالی وینا
- خپلو ویونکو لره به سپارش کوي
- د عقل څخه کار اخیستلو ته بلنه ورکوي
- په دعوت کې په نرمۍ او مهرباني باندې امر کوي
- په نازل شوو کتابونو کې وروستی کتاب دی
- داسې الفاظ استعمالوي کوم چې په نفسونو کې اثر کوي
- پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې رانازل شوی

د قرآن کریم له ځانګړتیاوو څخه:

د قرآن کریم له فضیلتونو څخه:

# قرآن کریم

**د سورتونو شمیر یې**

۱۱۴ سورتونه دي

**د قرآن کرېم اعجاز**

د عربو کافرانو د قرآن کریم نه انکار وکړ، نو الله تعالی هغوی وننګول چې د دې په څیر کتاب، یا د دې په څیر یو سورت، یا د دې په څیر لس آیتونه راوړي، نو دوی د دې نه عاجز پاتې شول.



**ژبه یې**

الله تعالی په عربي ژبه رانازل کړی.

**سرچینه یې**

الله - تعالی - د جبریل -علیه السلام- په واسطه پر محمد - صلی الله علیه وسلم - باندې نازل کړی.

**د آیتونو شمیر یې**

٦٢٣٦ آیتونه.

**نازلېدل یې**

الله تعالی په مکه او مدینه کې د ۲۳ کلنو په موده کې جلا جلا رانازل کړی.

**نومونه یې**

الله تعالی په قرآن، کتاب، فرقان او ذکر سره نومولی، او نور نومونه یې هم شته.

**سترې او مهمې موضوعګانې یې**

**د هغو مهمو موضوعاتو له جملې څخه چې په قرآن کریم کې تحلیل شوي دي:**

- د الله تعالی پر یووالي باندی بحث او هغه سره د شرک کولو رد.
- د کایناتو په اړه وینا کول د هغه د جوړوونکي په ښه جوړونې باندې دلالت کوي.
- د قرآن کریم کیسې د عبرت او پندونو نه ډکې دي.
- د پیدایښت د پیل او له مرګ وروسته د خلکو د راژوندي کیدو او د هغوی د عملونو د بدلې ورکولو په اړه وینا.
- د مومنانو لپاره د روزنې او قانون جوړونه.

١ قرآن کريم په مسايلو کې د عقلي استدلال له لارې عقل ته خطاب کوي.

سم ناسم

٢ الله تعالی ولې قرآن کريم نازل کړی؟

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

٣ دا ويب سايټ وګوره «alnaba.ws» بيا ځينې هغه دليلونه بيان کړه چې د قرآن کريم په ريښتنولۍ او د هغه په اثبات دلالت کوي، او د هغه د معجزو ځينې اړخونه په ګوته کړه.

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

٤ الله تعالی قرآن کريم رانازل کړی دی په:

أ) ټولو پيغمبرانو. ب) محمد ﷺ .



## دویم لوست

# د لنډو سورتونو تفسیر

**پیلیزه**

الفاتحه سورت د قرآن لوی او ستر سورت ګڼل کېږي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو احادیثو کې د هغې په فضیلت او عظمت ټينګار کړی، دا هغه سورت دی چې هر مسلمان يې بايد په يادو حفظ کړي، ځکه چې دا يوازينی سورت دی چې بايد په هر لمانځه کې يي تلاوت وشي، او په دې لوست کې به لدې سورت سره آشنا شو، آياتونه به يې حفظ کړو او معناوې به يې زده کړو، او همدارنګه به د قرآن کريم يو شمير لنډ سورتونه زده کړو کوم چې ستري معناوې لري.

## د سورت معنا:

**د سورت معنا:**

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١﴾ د قرآن کريم لوستل د الله تعالی په نوم سره پيلوو او د هغه نه مرسته غواړم، (الله) په حقه سره د بنده ګی حقدار، د عامي مهرباني په ځانګړتيا سره ياد شوی چې ټولو مخلوقاتو ته شامله ده، او په خپلو مومنانو بنده ګانو خاص  مهربان دی.




﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢﴾ (ټول ثنا او صفت خاص الله تعالی لره دي چې پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی). د الله تعالی ستاينه کول د هغه په بشپړو صفتونو سره، او د هغه په  نعمتونو سره په ټولو خلکو، نو يوازې هغه د هر ډول ستاينې حقدار دی، او هغه د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، کوم چې يې د نشت څخه پيدا کړي دي، او د هغوی د چارو سمبالونکی دی، او د هغوی د حالاتو سموونکی دی.

﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣﴾ (عام مهربان دی، خاص مهربان دی).

**الرحمن:** د ټولو مخلوقاتو لپاره په عامه مهربانۍ سره یاد شوی دی، او **الرحیم:** د مومنانو لپاره په خاصه مهربانۍ یاد شوی دی.



د ټولو مخلوقاتو لپاره (رحم کوونکی )



د مومنانو لپاره خاص دی (رحم کوونکی)

﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤﴾ (څښتن دی د ورځې د بدلې) د قیامت د ورځې څښتن دی، چې د عملونو د حساب او په هغې د بدلې ورکولو ورځ ده.

﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥﴾ (خاص ستا بنده ګي کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو) ربه یوازې ستا بنده ګي کوو، او یوازې خاص ستا نه په ټولو چارو کې مرسته غواړو، ځکه چې د ټولو چارو واک ستا په لاس کې دی.

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦﴾ (مونږ ته سمه نېغه لاره وښایه) مونږ ته د سمې لارې ښودنه وکړه، او مونږ په هغې باندې کلک کړه تر هغه چې تا سره مخ شو، او هغه اسلام دی، هغه ښکاره لاره چې ستا خوښۍ او جنتونو ته رسوونکې ده.

﴿صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾ (لاره د هغو کسانو چې تا په هغوی باندې نعمت کړی، نه لاره د هغو کسانو چې په هغوی باندې غضب کړی شوی او نه (لاره) د ګمراهانو). او دا لاره د هغو خلکو ده چې تا په هغوی باندې پېرزوینه کړې له پیغمبرانو او د هغوی له ملګرو څخه او هغه ځوک چې د هغوی په لاره تللي، نو خاص هغوی د هدایت او استقامت خاوندان دي.

او مونږ د هغه چا د لارې نه لرې وساته چې تا په هغوی باندې غضب رانازل کړی، ځکه چې هغوی حق پېژندلی خو عمل يې پرې نه دی کړی، او د ګمراهانو له لارې نه؛ کومو چې د ناپوهۍ له وجې د حق لاره نه ده پېژندلې.

## بحث وکړه



**د سورت فاتحې د یادولو لپاره مرستندویه وسیلې څه دي؟**

..............................................................................................

..............................................................................................

## د اخلاص سورت:




**د سورت معنا:**

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ (ته دوی ته) ووایه (ای نبي) ! الله تعالی یو دی ته ووایه -اي پیغمبره- چا چې ستا نه ستا د رب د ځانګړتیاو پوښتنه وکړه: هغه الله تعالی دی په الوهیت او ربوبیت کې یوازې دی، د هغه نه غیر بل څوک د بنده ګی حقدار نشته.

﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢﴾ (الله تعالی بې نیازه دی) او هغه الله تعالی دی؛ په خپلو صفتونو کې پوره -ذات- دی، او دا هغه ذات دی چې خلک يې د خپلو حاجتونو د پوره کولو لپاره رابولي او هغه د دوی نه بې نیازه دی.

﴿لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣﴾ (نه د چا نه پيدا دی او نه ترې څوک پيدا دي) او هغه الله تعالی دی چې اولاد ورلره نشته، نه زوی او نه لور، او نه ورله مور او پلار شته.

﴿وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾ (او نه ورله څوک سیال او برابر شته) هغه په خپل مخلوق کې هیڅ مشابهت نلري، نه په ذات کې، نه په نومونو کې، نه په صفاتو کې او نه په کړنو کې.

## الفلق سورت:




**د سورت معنا:**

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾ ووایه (اي پیغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې ته ووایه -اي پیغمبره-: پناه غواړم په الله تعالی پورې چې رب د سبا دی، او هغه د سبا راختل دي.

﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢﴾ د شر د هغه څه نه چې پيدا کړي يې دي د شر د ټولو مخلوقاتو نه چې الله تعالی پیدا کړي دي، هغه چې مونږ يې وينو او هغه چې نه يې وينو.

﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣﴾ او د تیارې شپې د شر نه کله چې راخوره شي او د شپې د شر نه کله چې يې تیاره راخوره شي، او په دې کې چې کوم شرونه او ضرر رسوونکي ځیزونه دي.


الفلق: د سبا راختل.


الغسق: د شپې تکه توره تیاره.

﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّـٰثَـٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ﴿٤﴾﴾ او د شر د هغو (جادوګرو) ښځو نه چې په غوټو کې پوکي وهونکي دي او د شر د هغو جادوګرو ښځو څخه کومې چې په غوټو کې پوکي کوي کله چې د جادو کړنې ترسره کوي.

﴿وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾﴾ او د شر د کينه کوونکو نه کله چې کينه ښکاره کړي. او د شر د کينه کوونکي نه کوم چې د يو چا نه د نعمت د لرې کولو هيله کوي، او هغه ته ضرر ورسيږي.


سُورَةُ النَّاسِ
بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴿٣﴾ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾

## الناس سورت:

**د سورت معنا:**

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴿١﴾﴾ ووايه (اې پېغمبره): زه پناه غواړم په رب د خلکو پورې. ته ووايه -اې پېغمبره-: پناه وړم الله تعالی ته چې پالوونکی د خلکو دی، يوازې همدا په هر شي قادر دی.

﴿مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴿٢﴾﴾ د خلکو پادشاه او ښتن دی. د ټولو خلکو پادشاه دی، د هغوی په ټولو چارو کې تصرف کوونکی دی.

﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴿٣﴾﴾ د خلکو حقيقي معبود دی. د ټولو خلکو حقيقي معبود دی، د هغه نه پرته دوی لره بل څوک د بنده ګۍ حقدار نشته.

﴿مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾﴾ د شر د وسوسې اچوونکي، پټېدونکي نه. د شيطان د ضرر نه کوم چې دوی ته د غفلت په وخت کې وسوسې وراچوي، او کله چې الله تعالی يادوي نو بيا دا کار نشي کولی.

﴿ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾﴾ هغه چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي. هغه چې د خلکو په سينو کې غلط فکرونه اچوي، او د هغوی په احساساتو او فکرونو لوبې کوي.

﴿مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾﴾ له پېريانو او انسانانو څخه. د انسي او جني شيطانانو څخه.

## الکافرون سورت:

**د سورت معنا:**

﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْكَـٰفِرُونَ ۝١﴾ (اې پېغمبره!) ته (دوی ته) ووایه: اې کافرانو. اې -پېغمبره- ته هغو کسانو ته ووایه چې په الله تعالی او د هغه پر رسول یې کفر کړی: اې په الله تعالی باندې کفر کوونکو.

﴿لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝٢﴾ زه د هغو (شیانو) عبادت نه کوم چې تاسو یې کوئ. زه د هغو باطلو خدایانو بنده ګي نه کوم چې تاسو یې کوئ، لکه بتان او داسې نور.

﴿وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٣﴾ او نه تاسو د هغه ذات بنده ګي کوئ چې زه یې کوم. او نه تاسو د هغه حقدار پروردګار بنده ګي کوئ کوم چې زه یې کوم، او هغه یوازې د بنده ګۍ حقدار دی..

﴿وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۝٤﴾ او نه زه د هغه شي بنده ګي کوم چې تاسو یې بنده ګي کړې ده. او نه زه د هغو باطلو خدایانو بنده ګي کوم چې تاسو یې بنده ګي کوئ..

﴿وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٥﴾ او نه تاسو بنده ګي کوونکي یاست د هغه ذات چې زه یې بنده ګي کوم. او نه تاسو د هغه حق پروردګار بنده ګي کوئ کوم چې زه یې بنده ګي کوم، او هغه یوازې د بنده ګۍ حقدار دی.

﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ۝٦﴾ ستاسو لپاره ستاسو دین دی او زما لپاره زما دین دی. ستاسو لپاره ستاسو دین دی کوم چې تاسو پرې یاست، او زما لپاره زما هغه دین دی چې ما رانبولی.



سُورَةُ الكَافِرُون

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْكَـٰفِرُونَ ۝١ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝٢ وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۝٤ وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ۝٦

کافر: هغه چا ته ویل کېږي چې د (الله تعالی) د توحید ګواهي یې نه وي ورکړې او د محمد - صلی الله علیه وسلم - د پېغمبرۍ تابعداري یې نه وي کړې.

**بحث وکړه**

**سورت اخلاص او کافرون په کومو موضوع ګانو تاکید کړی؟**

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

## الکوثر سورت:




شانئک: یعني هغه څوک چې تا بد ګڼي، او ستا د حق دین سره کینه کوي.

### د سورت معنا:

﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾﴾ بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی. اې پیغمبره مونږ تا ته ډېر خیر درکړی چې هغه لره هېڅ حساب او شمیرل نشته په دنیا او اخرت کې، او د دې خیر له جملې څخه په جنت کې د کوثر نهر دی.

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ﴿٢﴾﴾ نو ته د خپل رب لپاره لمونځ او قرباني کوه. نو ته دې خپل رب ته لمونځ او قرباني خاص کړه، او یوازې د هغه بنده ګې وکړه چې هغه لره هېڅ شریک نشته، او یوازې د هغه په نوم قرباني وکړه چې یوازې دی او هغه لره هېڅ شریک نشته، او د هغه شکر ادا کړه چې هغه تا ته عزت او خیر درکړی.

﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ﴿٣﴾﴾ بېشکه ستا دښمن هم هغه بې بنیاده (بې اولاده) دی. بېشکه ستا سره حسد کوونکی او ستا د حق دین سره حسد کوونکی، همدغه کمزوری، ذلیل، د خلکو نه هیر شوی او د خیر نه محروم دی.

## العصر سورت:




### د سورت معنا:

﴿وَٱلْعَصْرِ ﴿١﴾﴾ قسم دی په عصر (مازیګر، یا زمانه). الله تعالی په زمانه او وخت باندې قسم کړی په کوم کې چې د انسانانو حرکتونه واقع کېږي، د خیر اوشر څخه.

﴿إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَفِى خُسْرٍ ﴿٢﴾﴾

بېشکه انسان په تاوان کې دی. بېشکه انسان په تاوان او هلاکت کې دی.

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ ﴿٣﴾﴾

غیر له هغو کسانو نه چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي، او یو بل ته یې د حق دین وصیت کړی، او یو بل ته یې د صبر وصیت کړی. مګر هغه کسان چې په الله تعالی یې ایمان راوړی او نېک عملونه یې کړي، او ځینو یې نورو ته د حق قبلولو او په هغه باندې د کلک پاتې کېدلو وصیت کړی، او په دې باندې د صبر کولو وصیت یې کړی.

# شخصي ارزونه

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ۱ | آيا ته کولی شې دا شرحه کړی چې قرآن کريم څه شی دی؟ | | | | |
| ۲ | آيا ته کولی شې د قرآن کريم او زنده ګی ترمنځ تړاو باندې فکر وکړې؟ | | | | |
| ۳ | آيا ته پوهېږې چې الله تعالی په قرآن کريم کې ولې د پيغمبرانو کيسې ذکر کړې؟ | | | | |
| ٤ | آيا ته د سورت فاتحې لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٥ | آيا ته د سورت اخلاص لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٦ | آيا ته د سورت الفلق په لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٧ | آيا ته د سورت الناس په لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٨ | آيا ته د سورت الکافرون په لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٩ | آيا ته د سورت الکوثر لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١٠ | آيا ته د سورت العصر په لنډه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١١ | آيا ته سورت الفاتحه سم لوستلی شې؟ | | | | |
| ١٢ | آيا ته وتوانيدې چې سورت فاتحه حفظ کړې؟ | | | | |
| ١٣ | آيا سورت اخلاص په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |

| م | تعليمي موخه | د ارزوني کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ١٤ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الاخلاص حفظ کړې؟ | | | | |
| ١٥ | آیا سورت الفلق په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ١٦ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الفلق حفظ کړې؟ | | | | |
| ١٧ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الناس په سمه توګه ولولې؟ | | | | |
| ١٨ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الناس حفظ کړې؟ | | | | |
| ١٩ | آیا سورت الکافرون په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ٢٠ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الکافرون حفظ کړې؟ | | | | |
| ٢١ | آیا سورت کوثر په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ٢٢ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الکوثر حفظ کړې؟ | | | | |
| ٢٣ | آیا سورت العصر په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ٢٤ | آیا ته وتوانیدې چې سورت العصر حفظ کړې؟ | | | | |
| ٢٥ | کوم سورتونه دې چې لوستلې دی، آیا د هغوی معناوې احساسوې؟ | | | | |



دریم فصل

# عبادتونه





## د فصل لوستونه:

١ بنده ګي
٢ پاکوالی
٣ اودس
٤ غسل
٥ ځيني هغه حکمونه دي چې مسلمانې ښځې لپاره ځانګړې دي
٦ لمونځ
٧ زکات
٨ روژه
٩ حج









## لومړی

# بنده گي

### پیلیزه

مسلمان په خپل ژوند کې یو شمېر عبادتونه کوي چې د هغې له لارې خپل خالق ته نږدې کېږي، او دا ټول عبادتونه د الله عزوجل د لویې او یوازې هغه ته د عاجزۍ لپاره دي پرته له نورو څخه، او څومره چې د مسلمان په زړه کې د الله تعالی درناوی وي همغومره یې اثر په بنده گۍ کې ښکاره کېږي، او رېښتنی مسلمان هغه دی چې د هغه ټوله زنده گي، چارې، خوب او تفریح ټول خاص د الله تعالی د رضا لپاره وي، د الله تعالی د دې وینا مطابق: ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرگ خاص د الله تعالی لپاره دی. ﴿لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾ هغه لره هېڅ شریک نشته، او ماته د همدې (توحېد) حکم شوی دی او زه تر ټولو مسلمانانو اول یم. (الانعام: ١٦٢ -١٦٣) او په دې لوست کې به مونږ د عبادت معنا، ډولونه، د قبلېدو شرطونه، او درجې یې وپېژنو..

### د عبادت معنا:

**عبادت:** دا هغه عملونه دي کوم چې الله تعالی روا کړي تر څو مسلمان پرې هغه ته ځان نږدې کړي، او په دې کې ټول عملونه او ویناوې شاملې دي کومې چې الله تعالی خوښوي، که هغه ښکاره وي؛ لکه بدني عبادتونه، لکه: لمونځ او حج، یا که ښکاره نه وي؛ لکه د زړه عبادتونه لکه: د الله تعالی محبت، وېره او امید او نور د زړه عبادتونه. او بنده کولای شي خپل عادتونه په ښه نیت سره په عبادت بدل کړي. که د الله تعالی عبادت ته د ځواکمن کېدو په نیت خوراک، څښاک او خوب وکړي، نو په دې سره ورته ثواب ورکول کېږي.

## د عبادت ډولونه:

عبادتونه مختلفو ډولونو باندې تقسیمیږي:

**د زړه عبادتونه**

مسلمان يې په خپل زړه سره کوي، لکه: مینه، ویره، امید او عاجزي.

امید: هغه د الله تعالی په فضل خوشحالېدل، او د هغه د احسان او ورکولو طمع کول، په داسې حال کې چې هڅه کول او په الله باندې ښه توکل کول.
عاجزي: دا هغه شکل دی چې روح پکې ارام وي او ذهن پکې د عبادت په وخت کې نه ګډوډیږي، لکه لمونځ او اغیز یې د غړو په ارامتیا کې ښکارېږي.

**بدني عبادتونه**

چې مسلمان يې په بدن سره کوي، لکه: زکات او حج.

**د پرېښودلو عبادتونه**

مسلمان خپل رب ته د حرامو په پرېښودلو سره ځان نږدې کوي، لکه: د شرابو او زنا پرېښودل، او یا په ځینو وختونو کې ځینې مباح کارونه پرېښودل، لکه په روژه کې خوراک او څښاک پرېښودل.

ریاء (ځان ښودنه): دا چې مسلمان په خپل عبادت سره دا هدف وګرځوي چې خلک يې د بنده ګۍ په حال کې وګوري، او د دې په وجه يې وستايي.

## د عبادتونو د قبلېدو شرطونه:

**د عبادت د قبلېدو لپاره دوه شرطونه لازم دي:**

**لومړی:** الله تعالی ته اخلاص کول، نو مسلمان د شرک او ریا پرته یوازې الله تعالی ته د نږدې کېدو لپاره عبادت کوي.

**دویم:** د الله تعالی له قانون سره سمون، نو مسلمان عبادت په هغه ډول کوي لکه څرنګه چې الله تعالی روا کړې، او لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې دی.

**بحث وکړه**

ریا کار سړی الله ته د اخلاص په پرېښودلو سره څه دلاسه ورکوي؟

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

## د عبادتونو درجې (مرتبې):

### عبادت مختلفې درجې دي: ځینې یې:

هغه دي چې په هر مسلمان باندې واجب دي، لکه: لمونځ. او ځینې یې هغه دي چې په ځینو مسلمانانو باندې واجب دي: لکه: زکات، نو دا یوازې په مالدارو فرض دی. او د ځینو: کول یې مستحب دي خو واجب نه دي، لکه: د لمانځه نه وروستو دعاګانې او ذکر.

**تمرین**

**د لاندې عبادتونو څخه هر یو عبادت په خپله مناسبه خانه کې کېږدی د هغه د مرتبې په اساس په اسلام کې:**

د سهار اذکار

د مازیګر لمونځ

حج

مور او پلار سره نیکي کول

زکات

روژه رمضان

**په هر مسلمان باندې واجب دي:**

**په ځینو مسلمانانو باندې واجب دي:**

**مستحب دي او واجب نه دي:**

# د ارزونې پوښتنې

١ د دې ویډیو کلیپ له مخې (Why do i surrender to Allah?) ولې زه الله ته تسلیم شم؟) د هغې نتېجې په اړه خبرې وکړئ چې یو مسلمان یې یوازې د الله تعالی په مراد باندې تمرکز کولو او په خپلو ټولو کارونو کې یوازې هغه ته په اخلاص کولو سره ترلاسه کوي.

د ویډیو کلیپ لیدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

.....................................................................................................................

٢ د نیک عمل د قبلېدو لپاره لازم دي چې خاص د الله تعالی لپاره وي او د هغه د شریعت سره موافق وي.

○ سم

○ ناسم



# دویم لوست

# پاکوالی

## پیلیزه

اسلام پاکوالي او نظافت ته بلنه کوي، او په دې یې ټینګار کړی چې مسلمان باید د خپل ځان پاکوالی په پام کې ونیسي، او دا مسئله یې د دین له نخښو څخه ګرځولې، او د ډېرو عبادتونو صحت یې د مسلمان له پاکوالي سره تړلی، او دا د مسلمان د ځانګړتیاوو څخه دي؛ له هغو ځانګړتیاوو څخه چې مسلمان پرې د نورو څخه توپیر کیږي، او په دې لوست کې به موږ د پاکوالي معنا، ډولونه او په دې اړه ځینې احکام زده کړو.

## د پاکوالي معنا:

### پاکوالی

| او د پلیتیانو لرې کول | د بې اودسۍ په لرې کولو سره | الله تعالی ته بنده ګي کول |
| --- | --- | --- |
| دا هغه پلیت شیان دي چې شریعت یې د لرې کولو او د هغه د پاکولو امر کړی، لکه تش او ډک اودس ماتي. | بې اودسي د هر هغه شي لپاره یو شرعي صفت دی چې په غړو کې ورګډیږي او له امله یې پاکوالی لرې کېږي. | دا د یو کار قصد کول دي الله تعالی ته د تابعدارۍ او نزدېکت په نیت. |

اضافي مطالعه

د طهارت د احکامو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره (اسلام کې پاکوالی) کتاب ولولئ، چې په خو نړیوالو ژبو (اصول پلورنځي) کې شتون لري.

د کتاب د ډاونلوډولو لپاره بارکوډ سکین کړه.

## د پاكوالي ډولونه:

پاكوالى دوه ډولونو باندې ويشل كيږي:

### حسي پاكوالى

د نجاستونو له ليرې كولو او د (نجاستونو د ځاى) له پاكولو څخه يې عبارت دى

او د هغه لاملونو له منځه وړل دي چې د لمانځه مانع ګرځي؛ او دا د بدن د ځينو برخو په مينځلو او يا د ټول بدن په مينځلو سره كيږي.

### معنوي پاكوالى

او دا د مؤمنانو په حق كې له شرك، حسد، كينې او داسې نورو قلبي ناروغيو څخه د زړه پاكوالى دى، او دا پاكوالى لكه د بدن د پاكوالي په څېر مهم دى؛ بلكه دا ناشونې ده چې د بدن شرعي پاكوالى د شرك د نجاست په شتون كې پاتې شي - الله تعالى فرمايلي دي: ﴿إِنَّمَا ٱلْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ﴾[التوبة:٢٨] {يقينا چې مشركان نجس دي}.



د اوداسه څخه مراد: د بدن د ځينو غړو وينځل دي په اوبو سره.

حسي پاكوالى يا په اوداسه او يا په ځان وينځلو سره كيږي



د غسل نه مراد: په اوبو سره د ټول بدن وينځل دي.



په پاكوالي كې پاكې اوبه استعماليږي، لكه د دريابونو، سيندونو، كوهيانو (څاګانو)، او يا نورې هغه اوبه چې پليتي ورسره نه وي يوځاى شوې.نجاسة.

## د پاکوالي اړوند ځينې حکمونه:

- اصل په شیانو کې پاکوالی دی، او د یو شي په پلیتۍ باندې تر هغه وخته حکم نشي کېدلی تر څو چې یې شریعت په ناپاکۍ حکم نه وي کړی.
- د بدن او یا جامو په پاکوالي کې د پلیتۍ لرې کولو لپاره په اوبو او یا کوم بل پاکوونکي شي باندې بسنه کوي.
- کله چې انسان د حاجت رفع کولو لپاره حمام ته ننوځي، نو غوره دا ده چې د تش اودس ماتي او ډک اودس ماتي ځایونه په اوبو سره پاک کړي، او دا هم جایز ده چې په تشناب کاغذ، او یا بل پاکوونکي شي سره یې پاک کړي.

**بحث وکړه**

**د يو مسلمان د پاکوالي او شخصي حفظ الصحې په اړتيا باندې ټينګار په څه باندې دلالت کوي؟**

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

سم ځواب غوره کړئ:

١ د پاکوالي معنا:

- أ) د بې اودسۍ لرې کول.
- ب) د پليتۍ لرې کول.
- ج) ټول سم دي.

٢ په اوبو سره د ټول بدن مينځلو ته وايي:

- أ) اودس.
- ب) غسل.
- ج) تيمم.

٣ پاکوالي عموما دوه ډولونه لري؛ هغه دا دي:

- أ) حسي او معنوي پاکوالی.
- ب) اودس او تيمم.
- ج) اودس او غسل کول.



## دریم لوست

# اودس

### پیلیزه

اودس په اسلام کې خپل ارزښت د فرضي لمانځه سره د نژدې تړاو له امله لري چې د اسلام تر ټولو لويه نخښه ده، او له همدې امله بايد مسلمان يې په يادولو او په سمه توګه ادا کولو باندې ټينګار وکړي، او په دې لوست کې به مونږ د اودس په معنا، د هغه واجبونکي شيان، د هغه ماتوونکي شيان، او سمه طريقه وپېژنو.

### د اودس معنا:

**اودس:** په ځانګړې طريقې سره د مخ، لاسونو، او پښو مينځل، او د سر مسح کول دي.

### د اودس واجبات:

د اوداسه واجبوونکي هغه کارونه دي چې اودس ورته شرط دی، او کله چې بې اودسه شي دا شيان پرې حرامېږي، او هغه دادي:

بې اودسي: په انسان کې يو معنوي صفت دی چې انسان د لمانځه نه منعه کوي مخکې لدې نه چې ځان پاک کړي او دا د پليتۍ په څېر محسوس څيز نه دی، او دا - بې اودسي - په دوه ډوله دي، يو يې هغه ده چې مسلمان باندې لازم دی چې د هغه د لرې کولو لپاره اودس وکړي، او بل يې پرته له غسل څخه نه لرې کيږي.



❶ لمونځ



❷ د کعبې شريفې طواف



❸ د قرآن کريم لمس کول

## ځرنګه اودس وکړو؟

**مسلمان چې د اودس کولو اراده وکړي باید لاندې کارونه وکړي:**



۱

په زړه کې دې د اوداسه نیت وکړي، او ودې وایې: «بسم الله».



۲

دواړه لاسونه دې په اوبو پرمینځي، شروع دې د ښی لاس څخه وکړي.



۳

خولې ته په اوبو اچولو سره دې هغه پاکه کړي، بیا دې اوبه په خوله کې وخوځوي، بیا دې یې بېرته راوغورځوي، او دې ته مضمضه وایي.



٤

پوزه دې په اوبو اچولو سره پاکه کړي داسې چې اوبه پورته کش کړي، بیا دې بیرته د هوا سره راوباسي.



٥

ټول مخ دې ووینځي، او مخ په اوږدوالي سره د تندي د وېښتانو د راختلو له ځای نه تر د زنې د لاندې برخې پورې دی، او د ږیرې سره که چېرته ئې وي، او په پلنوالي سره د یو غوږ نه تر بل غوږ پورې.



٦

لاسونه دې د ګوتو له سرونو نه څخه تر څنګلو پورې ومینځي، شروع دې د ښی لاس څخه وکړي.



۷

خپل لاسونه دې په اوبو سره لامده کړي، بیا دې پرې په خپل سر مسح وکړي، د مخې طرف نه دې شروع وکړي شاته دې یې بوځي، بیا دی یې بېرته مخې ته راولي.



۸

د شهادت ګوتې دې په خپلو غوږونو کې دننه کړي، او د غوږونو شا دې په خپلو غټو ګوتو سره مسحه کړي.



۹

خپلې پښې دې د پړکو (ښنګرو) سره ومینځي، او دا هغه دوه هډوکي دي کوم چې د پښې په مفصل کې نېغ راوتلي، او په ښی پښې دې شروع وکړي.

## د اوداسه د اندامونو د مينځلو شمېر:

په اوداسه کې سنت طريقه دا ده چې هر يو اندام دې درې ځلې ومېنځي مگر د سر او غوږونو مسحه کول يو ځل دي، او د هر اندام يو ځل مېنځل هم روا دي په دې شرط چې پوره يې ومېنځي.

## د اوداسه ماتوونکي شيان:

اودس د څلورو شيانو نه په يو سره ماتېږي:

- د دوو لارو څخه د څه شي وتل، لکه: باد، تشې متيازې، يا ډکې متيازې، يا مني او يا هغه لوندوالی چې د شهوت د وجې نه راووځي.
- د خوب يا نشې په وجه د عقل تلل.
- بغير د پردې څخه د اندام مخصوصه لمس کول.
- د اوښ غوښه خوړل.

اضافي مطالعه

د اودس کولو څرنگوالي په اړه دا فلم وگورئ چې د اصول مرکز لخوا چمتو شوی دی.

د ويډيو کتلو لپاره دا بارکوډ سکين کړئ

## بحث وکړه

د اودس زده کولو او په سمه توگه د پلي کولو لپاره ځېنې وسېلې وشمېره؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

## زه کوم وخت باید دویم ځلي اودس وکړم؟

کله چې مسلمان اودس وکړي نو اصل دا دی چې د هغه اودس پاتي کېږي تر څو هغه څه ونه کړي چې د هغه په وجه اودس کول پرې واجبېږي، کوم چې مخکې تیر شو..

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- د قرآن شریف لمس کول
- د تشو متیازو وتل
- لمونځ
- خوب
- په شهوت سره د اندام مخصوصه لمس کول
- د کعبې نه طواف
- د اوښ غوښه خوړل

د هغه لپاره د اودس کول شرط دی:

اودس ماتوونکي شیان:

## په جورابو باندې مسحه کول:

کله چې اودس کوونکی جورابې دواړو پښو ته اغوستی وي، نو هغه لره جایز دی چې د پښو په ښکاره برخه په خپلو لمدو لاسونو سره مسحه کړي، او د پښو مینځلو لپاره د هغې وېستلو ته ضرورت نشته، او د دې لپاره درې شرطونه دي:

**لومړی**
باید جورابې یې په اودسه باندې اغوستې وي.

**دویم**
جورابې باید پښه د پړکو سره پټه کړي.

**دریم**
د مسح کولو موده باید د اوسېدونکي (مقیم) لپاره د (۲۴ ساعتونو)، او د مسافر لپاره د (۷۲ ساعتونو) څخه زیاته نه وي.



په جورابو باندې د مسحې وخت د اولې مسحې نه شروع کېږي.

**١**

د اوداسه راتلونکي کارونه ترتیب کړئ پیل يې له اول نه وکړه:

أ) د سر مسح. ◯ ..............................

ب) خولې ته اوبه اچول. ◯ ..............................

ج) د مخ مينځل. ◯ ..............................

د) د غوږونو مسح کول. ◯ ..............................

هـ) د پښو مينځل. ◯ ..............................

و) د لاسونو مينځل. ◯ ..............................

**٢**

د راتلونکو عبادتونو څخه هغه په نخښه کړئ چې اودس کول ورته شرط دی:

◯ أ) لمونځ.

◯ ب) روژه.

◯ ج) د قرآن کريم لمس کول.

◯ د) اذان.

◯ هـ) طواف.

**٣**

سم ځواب په نخښه کړئ:

په لنډه توګه د اودس د ماتوونکو شيان وشميرئ:

◯ أ) ٢

◯ ب) ٣

◯ ج) ٤



خلورم لوست

# غسل

## پیلیزه

ځینې داسې حالتونه شته چې یوازې اودس پکې بسنه نه کوي، بلکې غسل پکې هم لازمېږي، پدې لوست کې به مونږ د غسل معنا، د لازمېدو اسباب او طریقه وپېژنو.

### د غسل معنا:

**غسل: له لویې پلیتۍ څخه د پاکوالي په نیت په اوبو سره د ټول بدن وینځل دي.**

### څرنګه غسل وکړو؟

په غسل کې د ټول بدن وینځل په اوبو سره او خولې او پوزې ته اوبه اچول اړین دي، نو کله چې یو مسلمان دا کار وکړ، هغه د لویې پلیتۍ نه پاک شو.

**لویه پلیتي:** دې ته وايي چې د هغې د لرې کولو لپاره غسل کول اړین دي او یوازې اودس بسنه نه کوي او دا څو ډولونه لري:

۱. جنابت: د سړي او ښځې هغه حالت دی چې کله دواړه جماع (کوروالی) وکړي، او یا که د چا نه په شهوت سره مني ووځي که څه هم له کوروالي پرته وي.

۲. حیض: هغه میاشتنۍ وینه ده چې له ښځې نه ځي.

۳. نفاس: هغه وینه ده چې د ماشوم له زیږیدلو نه وروسته د ښځې د رحم (بچه دانې) څخه وځي.

## د پوره غسل طريقه:

**کله چې يو مسلمان د پوره غسل اراده وکړي، نو هغه بايد لاندې کارونه وکړي:**

١ په خپل زړه کې د غسل نيت وکړي او خپل مخصوصه اندام دې په اوبه سره ومينځي.

٢ اودس دې وکړي لکه څرنګه چې د لمانځه لپاره اودس کوي.

٣ ټول بدن دې په اوبو سره ومينځي.

## غسل کله واجبيږي؟

په درې حالتونو کې په مسلمان غسل واجبيږي:

**لومړی**
په شهوت سره د مني وتل، برابره خبره ده په خوب کې وي که په ويښه وي.

**دويم**
اجماع (کورولی)، برابره خبره ده که انزال وشي او که ونه شي.

**دريم**
د ښځې څخه د حيض يا نفاس وينه وتل، نو کله چې وينه ودريږي لامبل ورباندې لازميږي.

**بحث وکړه**

**د لوېې بې اودسۍ د پورته کولو لپاره د غسل کولو لارښوونه څه ته اشاره کوي؟**

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

## هغه کارونه چې جنب کس لره يې کول حرام دي:

**هغه کس چې د جماع او يا د مني د خارجېدو له امله پرې غسل واجب شوی وي دې حالت ته (جنابت) ويل کېږي**، او دغه کس ته (جنب) ويل کېږي، او په دې حالت کې په دې باندې دا څيزونه حرام دي:



١ لمونځ



٢ د کعبې شريفې طواف



٣ د قرآن کريم لمس کول او يا رااخېستل



٤ په جومات کې پاتې کېدل



٥ قرآن کريم تلاوت کول

## تيمم:

که يو څوک اودس او يا غسل کول غواړي او د اوبو د نشتوالي له وجې د دې نه عاجز شي، يا د ناروغۍ او يا بل څه له امله د اوبو د استعمال توان نه لري، نو هغه لره د دې دواړو په بدل کې تيمم روا دی. د تيمم طريقه: په زړه سره دې د تيمم نيت وکړي او په يو وار دې په خپلو لاسونو خاوره ووهي، بيا دې په هغې خاوره چې په لاسونو کې يې پاتې دي مخ مسحه کړي، بيا دې پرې خپل لاسونه مسحه کړي.




## که چېرته د تيمم کولو وروسته اوبه ومومه څه بايد وکړم؟

کله چې يو مسلمان اوبه ومومي او يا د اوبو د استعمالولو توان ولري اودس يې ماتېږي او اودس يا غسل وربانديې لازمېږي.

## د ارزونې پوښتنې

**۱**

باید ټول بدن ته اوبه ورسېږي تر څو غسل سم او جنابت لرې شي.

- سم
- ناسم

په خوب کې د مني وتلو له امله غسل نه لازمېږي، او په وېښه د وتلو په وخت کې غسل لازمېږي.

- سم
- ناسم

جنب انسان لره جواز نلري چې په جومات کې کېښني.

- سم
- ناسم

**۲**

مسلمان لره په لاندې حالت کې تیمم کول روا دی:

- أ) کله چې د اوبو د استعمالولو توان ونه لري.
- ب) د اوبو د نشتوالي په وخت کې.
- ج) ټول سم دي.



پنځم لوست

# ځيني هغه حکمونه دي چې مسلمانې ښځې لپاره ځانګړي دي

## پیلیزه

الله تعالی ښځه په ځېني ځانګړتیاوو او صفاتو  سره ځانګړې کړې ده چې په هغې سره یې د سړیو نه توپیر کېږي، لکه څنګه هغې باندې د سړیو نه پرته ځېنې عبادتونه واجب کړي، او په دې لوست کې به مونږ ځېنې هغه مسألې وپېژنو چې هغه د مسلمانې ښځې ځانګړتیاوې دي.

## په اسلام کې د ښځې مرتبه او مقام:

**د هغو مسلو د مثالونو بیان چې په اسلام کې د ښځې د مرتبې سره تړاو لري.**

- اسلام ښځې ته په میراث کې د هغې حق په انصاف او سخاوتمندانه تقسیم سره ورکړی، په ځېنو ځایونو کې ښځه د سړي سره برابره وي، او په ځېنې ځایونو کې یې برخه توپیر لري، د هغې د خپلولۍ او د هغې خرچې له وجې چې هغې ته سپارل شوې وي.
- په ډېرو چارو کې یې د سړي او ښځې ترمنځ برابروالی راوستی لکه تولې مالي راکړې ورکړې.
- ښځې ته یې د خاوند د اختیارولو ازادي ورکړی.
- د هغې نوم او خپل پلار ته د نسبت شرف یې ورته پربښودلی، د هغې نسب له واده وروسته نه بدلیږي، بلکې خپل پلار او کورنۍ ته منسوب پاتې کیږي.
- پر سړي واجب ده چې د هغې پالنه وکړي او په هغې باندې بې له احسانه لګښت وکړي که چیرته هغه له هغو کسانو څخه وي چې مصرف کول پرې واجب وي لکه ښځه، مور او لور.
- د هغې ضعیفې ښځې په خدمت یې ټینګار کړی چې څوک نه لري، که څه هم خپلوان یې نه وي، او د هغې په خدمت کې یې ترغیب ورکړی او دا یې د الله تعالی په نیز د غوره عملونو څخه ګرځولی.

اضافي مطالعه

دا ویډیویي ماده وګورئ چې په اسلام او ځینو نورو دینونو کې د ښځو مقام سره پرتله کوي.

د ویډیو کتلو لپاره بارکوډ سکین کړئ

## د ښځې تړاو له نارینه سره:

**د نارینه سره د ښځې اړیکه په درې برخو ویشل شوې:**

| دا چې ښځه یې کور ودانه (میرمنه) وي | دا چې د هغه له محارمو ښځه وي | دا چې ښځه د هغه لپاره غیر محرم (پردۍ) وي |
|---|---|---|
| د دوی لپاره د هغه څه لیدل او خوند اخیستل جایز دي چې د نورو لپاره نه دي جایز، او الله تعالی خاوند د ښځې لپاره جامه یاده کړې او ښځه یې د خاوند لپاره جامه یاده کړې، د دوی ترمنځ د نفسي، عاطفي او بدني اړیکو په زړه پورې انځور. | له محرم ښځه مراد ټول هغه ښوک دي چې په سړي باندې د تل لپاره له هغې سره واده کول حرام وي، لکه: مور، خور، خورزه، وریره، عمه، خاله او خواښې، دا ټولې چې دي دوی لره روا دي د خپلو محارمو په مخ کې په خپل ښایست سره راښکاره شي کوم چې لاسونه، غاړه، ویښتان او نور دي بغیر له تجاوز او زیاتي ښځه | پردۍ ښځه هره هغه ښځه ده چې د هغه محرمه نه وي، که هغه یې د خپلوانو ښځه وي لکه د تره لور، د ترور لور، د ورور ښځه او د کورنۍ ښځې، او یا د هغه خپلوان نه وي، او له هغې سره کورنۍ اړیکه نه لري، او اسلام د دواړو جنسونو تر منځ د معاملې لپاره اصول وضع کړي دي لکه د حجاب فرضیت او له - نامحرم سره - نه ګوښه کېدل. |

## د مسلمانې ښځې حجاب او پرده:

الله تعالی په ښځه باندې پرده فرض کړې ده، نه په سړي باندې، ځکه چې په هغې کې د ښکلا او جاذبې عوامل موجود دي، چې دا د نارینه لپاره د فتنې سبب دی د دې په پرتله چې سړی د ښځې لپاره د فتنې سبب شي، او د دې پردې حدود دا دي چې خپل ټول بدن به د پردې سرې ښځه پټوي، او کولی شي چې هر قسم او په هر رنګ کې جامې واغوندي د څلورو شرطونو په پام کې نیولو سره:

### لومړی
باید چې دا پرده ټولو هغو ځایونو لره پټونکې وي چې د هغو اندامونو پټول واجب دي.

### دویم
باید چې پراخه وي او داسې تنګ نه وي چې د بدن اندامونه یکې پېژندل کېږي.

### دریم
باید دومره نرۍ نه وي چې د هغې لاندې د بدن اندامونه ښکاریږي.

### څلورم
چې دا په خپل ذات کې ښایسته نه وي.

## له ښځې څخه د وتونکې وینې ډولونه:

له ښځې څخه دوه ډوله وینه راوځي

| د حیض وینه | د نفاس وینه |
| --- | --- |
| او دا طبیعي وینه ده چې د ښځې د بچه دانۍ څخه غالبا هره میاشت راوځي، او څو ورځې دوام کوي، او دې ته (میاشتنۍ مریضي) وایي. | دا یوه طبیعي وینه ده چې د زنانه د بچه دانۍ څخه د ماشوم د پیداکېدو نه وروسته راوځي، او څو ورځې دوام کوي چې کله ۴۰ ورځو ته هم رسېږي. |

## د حیض او نفاس حکمونه:

**الله تعالی د حایضې او نفاسې ښځو لپاره ځینې حکمونه روا کړي، ځینې یې دادي:**

- لدې دواړو څخه د لمانځه ساقطېدل، نو د حیض او نفاس پر مهال پرې لمونځ نشته او د دې بېماریو څخه وروسته پرې د دې لمونځونو قضايي هم نشته.
- د روژې پرېښودل، نو دې دواړو ته د حیض او نفاس په وخت کې روژه نیول جایز نه دي، لېکن کومې روژې چې یې خوړلې د هغوی قضایي به راوړي.
- د جماع (کوروالي) حراموالی: نو خاوند لره نه دي جایز چې د خپلې حایضې او یا نفاسې ښځې سره کوروالی وکړي تر څو چې د حیض او نفاس نه وروسته ونه لامبي، او د جماع نه پرته نورې لوبې ورسره کولی شي.
- د وینې د ودرېدلو نه وروسته غسل کول: نو کله چې د حیض او نفاس وینه ودرېږي په دې دواړو باندې لازم دي چې غسل وکړي لکه وړاندې چې تېر شو.

**اضافي مطالعه**

د اسلام له نظره د ښځو د درناوي په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دا کتاب ولولئ (المرأة في ظل الإسلام)، کوم چې په اصول ستور کې په مختلفو ژبو شتون لري.

د کتاب ډاونلوډ کولو لپاره بارکوډ سکین کړئ.

**بحث وکړه**

د ښځو په اړه د ځینو شرعي حکمونو له پرېښودو څخه ځینې حکمتونه راوباسئ؟

........................................................................

........................................................................

........................................................................

## د ارزونې پوښتنې

**١**

اسلام په سړي باندې د ښځې پاملرنه او په هغې باندې لګښت کول پرته له احسانه واجب کړي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

په حجاب کې دا فرض نه ده چې دا دې پراخه وي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

کله چې حایضه ښځه پاکه شي نو په هغې باندې واجب ده چې مخکې د لمونځ کولو څخه غسل وکړي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

حیض یوه طبیعي وینه ده چې د ښځې له بچه داني څخه د ولادت نه وروسته راوځي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

**٢**

په ښځې باندې فرض دی چې خپل ټول بدن د لاندې خلکو څخه ستر وکړي:

- ◯ أ) نوري ښځې.
- ◯ ب) پردي سړي.
- ◯ ج) خسر.

په حایضه او نفاسي ښځې لازم دی کله چې پاکه شي چې قضایي راوړي د:

- ◯ أ) لمونځ.
- ◯ ب) روژې.
- ◯ ج) ټول سم دي.



شپږم لوست

# لمونځ

## پیلیزه

لمونځ په دین کې تر ټولو ستر عبادت دی چې یو مسلمان یې باید زده کړي او اداء کړي، او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مونږ ته د هغه د ادا کولو څرنګوالی رانبودلی په هغې طریقه چې الله تعالی پرې راضي کیږي.
او په دې لوست کې به مونږ فرضي لمونځونه، مرتبه یې، شرطونه یې، او په سمه توګه د ادا کولو څرنګوالی یې زده کړو.

## لمونځ څه شی دی؟

**لمونځ:** ورځني عبادت دی، چې د ویناګانو او عملونو یوه شامله ټولګه ده چې د هغه په واسطه مسلمان خپل رب ته نږدې کیږي، او په ورځ او شپه کې پنځه ځله ترسره کیږي.

**او لمونځ د اسلام له رکنونو څخه دویم رکن دی.**

## د لمانځه مرتبه:

**لمونځ د یو شمیر ځانګړتیاوو په وجه ځانګړی شوی، له هغې جملې څخه:**

- د شهادتینو نه وروسته د اسلام دویم رکن دی.
- دا یو داسې عبادت دی چې په هر حال یې ادا کول فرض دي، د روغتیا او ناروغتیا، د امن او ویرې په حال کې.
- دا یو داسې عبادت دی چې مسلمان پرې د کافر څخه بیلیږي.



## مونږ ولې لمونځ کوو؟

مونږ ځکه لمونځ کوو چې دا يو داسې عبادت دی چې الله تعا انانو فرض کړی.

**د لمانځه د حکمتونو او فايدو څخه:**

| | |
|---|---|
| د مسلمان او د هغه د رب ترمنځ اړيکه ده. | نفس د دنيا له غمونو څخه اراموي. |
| د مسلمان اراده او قصد پياوړی کوي. | اخلاق برابروي، او لمونځ کوونکی د منکراتو څخه لرې کوي. |

## د لمانځه شرطونه:

**د لمانځه د ادا کولو لپاره يو شمير شرطونه دي، او هغه دا دي:**

- پاکوالي: چې دا د بدن او ځای پاکوالي ته شامل دی، او د بې اودسۍ نه په اوداسه او غسل سره پاکوالی.
- د عورت پټول: او عورت: هغه څه ته وايي چې د خلکو په مخ کې يې پټول واجب وي، او د سړي هغه عورت چې په لمانځه کې يې پټول واجب دي د نامه نه تر زنګون پورې دی، او د زنانه هغه عورت چې په لمانځه کې يې پټول واجب دی ټول بدن دی پرته له مخ او لاسونو څخه.
- قبلې ته مخ کول: او هغه د کعبې شريفې طرف دی کومه چې په مکه مکرمه کې ده، نو په لمونځ کوونکي واجب دی چې په لمانځه کې د هغې طرف ته مخ وګرځوي.
- د لمانځه وخت داخليدل: نو د وخت نه مخکې لمونځ نه صحيح کيږي، او نه يې د خپل وخت نه وروسته کول جايز دي، او غوره دا ده چې په اول وخت کې وکړل شي.

**اضافي مطالعه**

د لمانځه د څرنګوالي په اړه دا فلم وګورئ چې د اصول مرکز لخوا چمتو شوی دی.

د ويډيو کتلو لپاره دا بارکوډ سکين کړئ

## پنځه لمونځونه:

الله تعالی په خپلو بنده ګانو باندې په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض کړي، او هغه دا دي:

| لمونځ | اول وخت يې | آخر وخت يې | رکعتونه يې |
|---|---|---|---|
| **د سهار لمونځ** | د سهار راختل دي | د لمر راختل دي | دوه دي |
| **د ماپښين لمونځ** | د لمر زوال (او دا د ورځې په نيمايي کې د لويديځ طرف ته د لمر کږيدل دي) | کله چې د هر يو شي سيورى د هغه د اوږدوالي سره برابر شي | څلور دي |
| **د مازيګر لمونځ** | کله چې د هر يو شي سيورى د هغه د واږدوالي سره برابر شي | د لمر پرېوتل دي | څلور دي |
| **د ماښام لمونځ** | د لمر پريوتل | په اسمان کې د سوروالي پټيدل | درې دي |
| **د ماخستن لمونځ** | په آسمان کې د سوروالي پټيدل | نيمه شپه ده | څلور دي |

## ځرنګه لمونځ وکړو؟

**کله چې مسلمان د لمانځه کولو اراده وکړي باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:**



١ په زړه کې د لمانځه نیت کوي.

٢ قبلې ته مخامخ ودرېږي، او خپل لاسونه د خپلو ولو او یا غوږونو سره برابر پورته کوي او : «الله أکبر» وایي



٣

خپل ښی لاس په چپ لاس دپاسه ږدي، بیا د لمانځه د شروع کېدو له دعاګانو څخه یوه دعا وایي، لکه: «سبحانك اللهم وبحمدِك، وتبارك اسمُك، وتعالى جَدُّك، ولا إله غيرُك». اې الله! پاکي او ستاینې یواځې تالره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته. بیا وایي: «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم». زه الله ته پناه وړم له رټل شوي شیطان څخه، د الله په نامه پیل کوم چې لورونکی او مهربان دی. بیا فاتحه سورت لولي، بیا «آمین» وایي کله چې فاتحه ولولي، او د آمین معنا ده: یا الله زما دعا قبوله کړه. بیا له فاتحې نه وروسته د قرآن کریم له سورتونو څخه هغه لولي چې ورته آسانه وي، که څه هم یو آیت وي.

٤ خپل لاسونه د خپلو ولو او یا غوږونو سره برابر پورته کوي، او «الله أکبر» وایي، او خپله ملا رکوع ته ښکته کوي، او خپل لاسونه په زنګونو باندې ږدي، او خپله ملا او سر په یوه اندازه برابروي، او په رکوع کې «سبحان ربی العظیم» درې ځلې وایي.





٥ خپل سر پورته کوي تر څو بيرته ودريږي او لاسونه د خپلو ولو سره يو برابر پورته  کوي، او  وايي: «سمع الله لمن حمده». بيا په ولاړه باندې «ربنا ولک الحمد» وايي.

٦ بيا په ځمکه په سجده پريوځي، خپل تندی او پوزه په ځمکه ږدي، او خپل لاسونه، زنګونونه او د ګوتو سرونه هم په ځمکه ږدي، او دري ځلې «سبحان ربي الأعلى» وايي.





**٧**

سر پورته کوي او «الله أکبر» وايي او په چپه پښه کېني، او ښۍ پښه ودروي، او لاسونه په ورنونو ږدي او په ناسته «رب اغفر لي» وايي.

**٨**

د لومړۍ سجدې په څير بيا ځل سجده کوي او سجدې ته د ښکته کېدلو په وخت کې «الله أکبر» وايي. او په لومړۍ سجده کې يې چې څه ويلي و هماغه به په دويمه سجده کې هم وايي.





**٩**

سر پورته کوي، دويم رکعت ته پاڅېږي او «الله أکبر» وايي. او دويم رکعت هم د لومړي رکعت په څېر ادا کوي.

۱۰



په دويم رکعت کې د دوهمي سجدې نه وروسته داسې کيني لکه د دوو سجدو په منځ کې چې څرنګه کېناستلی و، او وايي: «التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله»، ثنا، ستاينې او پاکي الله لره دی، اې نبي! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه وي، پر مونږ او د الله پر نيکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې بې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی . او دې ته لومړی تشهد ويل کېږي. لدې نه ورسته بيا وايي: «اللهم صلِّ على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد» ياالله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولی وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. يا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. او دې ته ابراهېمي درود ويل کيږي.

۱۱



ښي طرف ته به مخ واړوي او «السلام عليكم ورحمة الله وبركاته» به ووايي، بيا به چپ طرف ته مخ واړوي او همداسې به ووايي، او په دې سره د دې کس لمونځ ختمېږي.

دا د دوه رکعتي لمانځه طريقه ده، لکه: د سهار او جمعې لمونځ، او که څېرته درې رکعتي لمونځ وو لکه: د ماښام، او يا څلور رکعتي لمونځ و لکه د ماپښين، مازيګر او ماخستن لمونځونه، نو دا به د لومړي تشهد د ختمېدو نه وروسته پاتې رکعتونه پوره کړي لکه د لومړي رکعت په څېر پرته له دې چې د فاتحې نه وروسته نور څه نه وايي، بيا به داسې کېني لکه د دويم رکعت نه ورسته چې کېناستلی و، او لومړی تشهد به ووايي، بيا به ابراهيمي درود ووايي، بيا به سلام وګرځوي.

## د جمعې لمونځ:

- الله تعالی پر مسلمانانو د جمعې په ورځ یو خاص لمونځ فرض کړی چې هغه ته (د جمعې لمونځ) وايي، او د هغه ځانګړې صفت او ځانګړي شرطونه دي، او دا په دغه ورځ د ماپښین د لمانځه په ځای دی.
- د لمانځه لپاره مسلمانان په جومات کې راټولیږي او د جومات خطیب دوه خطبې وايي، بیا دوه رکعته لمونځ کوي، چې په دې دواړو رکعتونو کې په ښکاره (لوړ غږ) قرآن کریم لولي.
- د جمعې په لمانځه د ګډون لپاره غسل کول روا دي، او باید وختي جومات ته راشي، او پرته له عذر نه د هغې نه وروسته کېدل جایز نه دي او څوک چې ورته حاضر نه شو نو هغه دې د ماپښین څلور رکعته لمونځ وکړي، په لوړ غږ دې پکې قراءت نه کوي.
- په مسافر او ښځه باندې د جمعې لمونځ فرض نه دی.

**بحث وکړه**

**له خپلو ملګرو سره د مسلمان پر وړاندې ځینې هغه ننګونې وڅیړئ چې په خپل وخت د لمانځه د ادا کولو مخه يې نیسي، او څرنګه باید د دې ننګونو نه ووځي.**

............................................................
............................................................
............................................................
............................................................



﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ اې هغو کسانو چې ایمان يې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وشي، نو تاسو د الله ذکر ته بیړه وکړئ او اخیستل خرڅول پرېږدئ، دا ستاسو لپاره ډېر غوره دی که تاسو پوهېږئ. (الجمعة: ٩).

## د ارزونې پوښتنې

۱

مسلمان کولی شي د وخت د داخلېدلو څخه مخکې فرض لمونځ وکړي.

سم ناسم

د سهار د لمانځه وخت د لمر راختلو سره ختمېږي.

سم ناسم

۲

د جمعې د ورځې دوه ځانګړې عبادتونه ذکر کړه.

..................................................

..................................................

د مسلمان په ورځنی ژوند باندې د پنځه وخته لمونځونو اثر څه دی؟

..................................................

..................................................

د دې ویب پاڼې په کتلو سره: islamicfiqh.net/en، په اسلام کې د لمانځه د پرېښودونکي د حکم په اړه خبرې وکړئ.

..................................................

..................................................

۳

هغه عورت چې په سړي باندې يې په لمانځه کې پټول واجب دي:

أ) ټول بدن پرته له مخ، لاسونو او پښو څخه.

ب) د نامه نه تر زنګون پورې.

ج) د ولو نه تر زنګون پورې.

هغه لوری چې لمونځ کوونکی ورته باید مخ وګرځوي:

أ) د شمال طرف. ب) د لویدیځ طرف. ج) د کعبې طرف.

لمونځ کوونکی په سجده کې دا دعا وايي:

أ) سبحان ربي العظيم. ب) سبحان ربي الأعلى. ج) رب اغفر لي.



## اووم لوست

# زکات

### پیلیزه

له پخوانیو زمانو راهیسې په دې ځمکه کې انسانان په بېلابېلو کچو ژوند کوي، ځینې په دوی کې شتمن دي چې د ډېرو پیسو خاوندان دي، او لدوی ځینې هغه غریب دي چې خپله د خوراک ډوډۍ نه مومي، او دا په دې کائناتو کې د الله تعالی له طریقو څخه ده، او اسلام د شتمنو په مال کې (زکات) فرض کړی دی چې باید غریبو ته ورکړ شي تر څو ورسره مرسته وشي او هغوی د غربت له درده خلاص کړي، او دې ته یې هڅولي دي چې مسلمان د خپل ضرورت څخه زیاتې پېسې ولګوي، او د دې بدله یې ډېر اجرونه ګرځولي چې مسلمان یې په ژوند او د مرګ نه وروسته حاصلوي، همدا راز مسکینانو سره په هر وخت او هره حادثه کې په نېکۍ کولو باندې تشویقوي، همدارنګه ورو ته د ډوډۍ ورکولو او بربنډو ته د جامو وراغوستلو باندې تشویقوي، دا ټول د دې لپاره چې مسلمانه ټولنه سره یو ځای شي او داسې شي لکه څنګه چې الله تعالی غواړي. په دې لوست کې به موږ د زکات د احکامو په اړه، د هغه د څرنګوالي په اړه، او د هغو مالونو په هکله چې زکات پکې واجب دی معلومات ترلاسه کړو.

## زکات څه شی دی؟

**زکات:** د شتمنو مسلمانانو د مالونو څخه د مال یوه برخه ده چې غریبانو ته ورکول کېږي، او دا د اسلام له رکنونو څخه دریم رکن دی.

**اضافي مطالعه**

دا ویډیویي ماده وګورئ چې د زکات او په ټولنه کې د هغه د اثر په اړه غږېږي، او دا د اصول مرکز لخوا چمتو شوې ده.

د ویډیو لیدلو لپاره بارکوډ سکین کړئ.

## مونږ ولې زکات ورکوو؟

د الله د حکم د عملي کولو په خاطر مونږ زکات ورکوو.

## د زکات له حکمتونو او فایدو څخه:

**لومړی**
د بخل او له مال سره له مینې کولو څخه د نفس پاکول .

**دويم**
د مال ډیر والی، ځکه چې زکات ورکول مال نه کموي بلکې زیاتوي یې او برکت پکې اچوي.

**دریم**
له اړمنو، فقیرانو او نورو سره مرسته کول.

## هغه کوم مالونه دي چې زکات پکې واجب دي؟


سره زر او سپین زر


نقدي پیسې


کروندې او مېوې


چار پایان

بهيمة الأنعام: اوښان، غواګانې او پسونه.


سوداګریز توکي

سوداګریز توکي: هر هغه شي ته وايي چې د تجارت لپاره تیار شوي وي، لکه کور، دکان، موټر، چارپایان او یا داسې نور.

### په نقدو پیسو کې به څنګه زکات ورکوو؟

مسلمان خپلو نقدو پیسو کې په هجري کال کې یو ځل زکات ورکوي، او د زکات اندازه یې دوه نیم سلنه ده، او زکات غریبانو او اړمنو خلکو ته ورکول کیږي.

**تمرین**

د راتلونکو عبارتونو څخه هر یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- د لاس ساعت
- سره زر او سپین زر
- د کور سامان آلات
- مالي مبلغ
- پسونه
- چرګه
- د مېوو بڼ (باغ)

په مسلمان باندې لازم دي چې زکات یې ورکړي:

زکات پکې نشته:

**بحث وکړه**

که چېرته ټول مالداره خلک د خپلو مالونو زکاتونه ورکړي نو د دې اغېز به څه وي؟

................................................................

................................................................

................................................................

١

دا کلیپ وګورئ "ولې مسلمانان زکات ورکوي؟" او بیا د زکات د وجوب د لوړو معناوو په اړه وغږیږئ.



٢

په مسلمان باندې واجب دي چې د خپلو نقدو پیسو زکات ورکړي:

- أ) په عمر کې یو ځل.
- ب) په کال کې یو ځل.
- ج) په میاشت کې یو ځل.

په نقدو پیسو کې د زکات اندازه:

- أ) ٢٥٪.
- ب) ١٠٪.
- ج) ٢,٥٪.



## اتم لوست

# روژه

**پیلیزه**

روژه یو له هغو عبادتونو څخه ده چې الله تعالی پر ټولو امتونو فرض کړې ده، او په اسلام کې مسلمان دا فریضه د الله تعالی د تابعدارۍ له امله ترسره کوي، او په دې لوست کې به موږ د روژې په معنا، د هغې د فاسدوونکو شیانو او د هغې ځینې مهمې مسألې زده کړو.

### روژه څه شی دی؟

**روژه:** داسې یو عبادت دی چې مسلمان پکې د خوراک، څښاک او کوروالي څخه د سهار له راختلو نه تر لمر پرېوتلو پورې ځان ساتي.

او د رمضان د میاشتې روژه د اسلام د رکنونو څخه څلورم رکن دی.

### مونږ ولې روژه نیسو؟

**مسلمان د الله تعالی د تابعدارۍ او د هغه د حکم د منلو په خاطر روژه نیسي.**

### د روژې له حکمتونو او فایدو څخه:

- په زیات عبادت سره د تقوا په ډېر والي او د ګناهونو په کمووالي سره د تقوا عملي کول.
- تر څو د لوږې په درد پوه شي هغه چې غریبانو او اړمنو ته رسېږي.
- تر څو خپل ځان د نفس له شهوتونو څخه ازاد کړي، او د هغې په سمولو او قابو کولو ځان تمرین کړي.

**!** الله تعالی روژه پر مسلمانانو او د دوی نه مخکې په نورو امتونو فرض کړې ده، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾ [اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ]. (البقرة: ۱۸۳).

## د روژې ماتوونکي شیان:

**په روژه لرونکي فرض دي چې له ځينو شيانو ځخه ځان وساتي، او کله چې يې وکړل نو روژه يې ماتيږي، او هغه دا دي:**

١ خوراک او څښاک، او په دې کې هغه ستن (پيچکاري) هم داخله ده چې د رګ د لارې د خوراک لپاره لېږل کيږي.

٢ قصدا د مني انزالول، برابره خبره ده که په کوروالي سره وي او يا بغير د کوروالي څخه، او د رمضان په ورځ کې کوروالي ډېره لويه ګناه ده.

٣ قصدا قی (استفراق) کول.

**او همدارنګه د ښځې روژه په دې ځيزونو سره فاسديږي:**

٤ د حيض او نفاس ويني راوتل.

## د رمضان المبارک مياشت:

هغه د هجري قمري کال نهمه مبارکه مياشت ده، په دې -مياشت- کې الله تعالی پر خپل رسول محمد -صلی الله عليه وسلم- قرآن کريم نازل کړی. او الله تعالی يې د ورځې روژه او د شپې لمونځ د ګناهونو د بخښني لامل ګرځولی دی. او الله جل جلاله هغه - مياشت- په داسې شپې سره ځانګړې کړې چې هغه د زرو مياشتو نه غوره ده، او هغې ته (د قدر شپه) ويل کيږي، ځوک چې دا شپه په ذکر او لمانځه سره را ژوندۍ کړي د هغه مخکيني ګناهونه بخښل کيږي.



مسلمانان د رمضان په مياشت کې د تراويح لمونځ کوي، او دا د هغه سنتو ځخه دي چې په دې مياشت پورې تړاو لري او د ماخستن د لمانځه ځخه وروسته ادا کيږي.

## په رمضان کې چا لره بوزه کېدل روا دي؟

الله تعالی په رمضان کې د ځینو خلکو لپاره بوزه کېدل روا کړی او هغوی دا دي:

١ هغه ناروغ چې روژه نیول ورته تاوان رسوي.

٢ هغه بوډا چې روژه نشي نیولی.

٣ مسافر د سفر په دوران کې.

٤ حایضه او نفاسه ښځه.

٥ امیدواره او تی ورکوونکې ښځه کله چې په خپل ځان او یا په خپلو بچو باندې ویرېږي.

### د روژې په اړه ځنې خبرتیاوې:

- چا چې په رمضان کې د عذر له امله روژه ماته کړه، نو هغه به د هرې ورځې په بدل کې بله ورځ روژه نیسي.
- کله چې یو داسې ناروغ روژه ماته کړي چې د روغېدو تمه یې نه وي نو د هغه نه د رمضان روژه ساقطېږي، او د هرې ورځې په بدل کې به یو مسکین ته خواړه ورکوي.
- کله چې یو مسلمان بوډا وي او هیڅکله روژه نشي نیولی، نو د هغه نه هم د رمضان روژه ساقطېږي، او د هري ورځ په بدل کې به یو مسکین ته خواړه ورکوي.



مسلمانان د ماښام د اذان سره روژه ماتی کوي، او ډیری مسلمانان کوښښ کوي چې خپلو نورو وروڼو سره یو ځای د ماښام روژه ماتی وکړي.

# د ارزونې پوښتنې

١ د دې کليپ له کتلو وروسته: Why do Muslims fast Ramadan ولې مسلمانان د رمضان مياشت روژه نيسي؟ د هغه اغيزو په اړه وغږيږئ چې مسلمانان يې د روژې نيولو څخه ترلاسه کوي.



٢ الله تعالی د ځينې خلکو لپاره روژه خوړل روا کړې، ځينې يې بيان کړه او د دې د حکمت په اړه وغږيږه.

٣ د روژې په دوران کې په مسلمان باندې لازم دی چې د دې شيانو څخه ځان وساتي:

- أ) خوراک او څښاک.
- ب) کوروالی.
- ج) ټول سم دي.

د روژې د ماتوونکو شيانو شمېر:

- أ) ٦.
- ب) ٥.
- ج) ٤.



## نهم لوست

# حج

### پیلیزه

حج د اسلام له رکنونو څخه یو رکن دی، او دا د هغه غوره عملونو څخه دی چې مسلمانان پرې الله تعالی ته ځان نږدې کوي، او د دې د فضیلت په اړه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ډیر حدیثونه راغلي، په دې لوست کې به مونږ د دې ځانګړې عبادت په اړه لږ معلومات ترلاسه کړو.

## حج څه شی دی؟

**حج:** هغه عبادت دی چې د ذوالحجې په میاشت کې چې د هجري کال وروستۍ میاشت ده د ځانګړو عبادتونو د ترسره کولو لپاره توان لرونکي مسلمانان مکې مکرمې ته ځي.

**او حج د اسلام له رکنونو څخه پنځم رکن دی.**

هجري کال: په دې کې د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت کولو ته اشاره ده، او د مسلمانانو خلیفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه د اسلامي تاریخ د پیل کېدو لپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هجرت کال غوره کړ، او هجري کال دولس میاشتې لري چې د محرم له میاشت سره پیلیږي او د ذو الحجې له میاشت سره ختمیږي، او مسلمانانو په هجري کال سره د واقعاتو او حقایقو تاریخ باندې تکیه کړېده.

## مونږ ولې حج کوو؟

**مسلمان مکې مکرمې ته د الله تعالی د بلنې په ځواب کې د حج ادا کولو لپاره قصد کوي.**

## د حج له حکمتونو او گټو څخه:

- په هغو پیغمبرانو پسې اقتدا کول چې مسجد الحرام ته د حج په مقصد تللي وو.
- په عبادت باندې مشغولتیا، حاجي یو څو ورځې د الله تعالی د عبادت لپاره ځان فارغ کړی وي، چې د یو عبادت څخه بل عبادت ته اوړي.
- د هغو مسلمانانو سره یو ځای کېدل چې په مقدسو ځایونو کې سره راټول شوي دي، او د هغوی سره پېژندنه کول، او د هغوی سره اړیکې جوړول.

## بحث وکړه

**له خپلو هغو ملگرو سره بحث وکړه چې حج یې کړی وي، او د حج د ادا کولو پر مهال د هغوی له احساساتو خبر شئ.**

## حج پر چا باندې فرض دی؟

حج په عمر کې یو ځلې واجب دی په هغه چا باندې چې توان او طاقت یې ولري د مسلمانانو نارینه او ښځینه و شخه، نو هر هغه څوک چې په بدني او مالي ډول د حج توان ولري په هغه باندې حج واجب دی.

### د حج په تړاو خبرتیاوې:

- مسلمان نشي کولی چې حج ادا کړي مگر هغه ځای کې چې هغه لره ځانګړی شوی دی چې هغه (مکه مکرمه ده)، او د کال په ځانګړي وخت کې.
- په حج کې څو عبادتونه دي چې مسلمان یې باید مخکې د حج له تګ څخه زده کړي.



هر کال د مختلفو ملکونو مسلمانان حج کوي، او د ټولو یو ډول کالي (جامې) وي نو د شتمن او غریب ترمنځ پکې هیڅ توپیر نه وي.

# د ارزونې پوښتنې

## ۱



د دې کلیپ په کتلو سره
Why Do Muslims Perform Pilgrimage (Hajj?):
مسلمانان ولې حج کوي؟ د حج عبادت د انساني فطرت سره د موافقت په لاره چارو خبرې وکړه.

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

## ۲

مسلمانان د حج فریضه په کوم وخت کې ادا کوي:

- أ) د رمضان میاشت کې.
- ب) د ذو الحجې میاشت کې.
- ج) د دیسمبر میاشت کې.

حج په مسلمان باندې فرض دی:

- أ) یو ځل په عمر کې.
- ب) دوه ځلې په عمر کې.
- ج) هر کله یې چې د حج کولو وسه وشوه.

# شخصي ارزونه

| م | تعلیمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ۱ | ایا د عبادت په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۲ | ایا د عبادت شرطونه بیانولی شې؟ | | | | |
| ۳ | ایا د عبادتونو ډولونه بیانولی شې؟ | | | | |
| ٤ | ایا د طهارت په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٥ | ایا د طهارت ډولونه پېژنې؟ | | | | |
| ٦ | ایا د اوداسه طریقه شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ٧ | ایا د اوداسه ماتوونکي شیان پېژنې؟ | | | | |
| ٨ | ایا په جورابو باندې د مسحې کولو مسالو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٩ | ایا د غسل طریقه باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١٠ | ایا د غسل واجباتو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١١ | ایا ته پوهېږې چې په جنب باندې د څه شي کول حرام دي؟ | | | | |
| ١٢ | ایا د ښځې څخه د وتلو وینو ډولونه پېژنې؟ | | | | |
| ١٣ | ایا د ښځو د وینو باره کې مهمې مسألې پېژنې؟ | | | | |
| ١٤ | ایا د لمانځه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١٥ | ایا ته پوهېږې چې مونږ ولې لمونځ کوو؟ | | | | |
| ١٦ | ایا د لمانځه شرطونه باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ١٧ | ایا پنځه لمونځونه پېژنې؟ | | | | |
| ١٨ | ایا د لمانځه په طریقه باندې پوهېږې؟ | | | | |

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ۱۹ | ایا د جمعې د لمانځه احکامو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۲۰ | ایا د زکات په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۲۱ | ایا ته پوهېږې مونږ ولې زکات ورکوو؟ | | | | |
| ۲۲ | ایا هغه مالونه پېژنې چې زکات پکې واجبیږي؟ | | | | |
| ۲۳ | ایا د زکات شرطونه پېژنې؟ | | | | |
| ۲٤ | ایا د زکات مستحق کسان معلوموlای شې؟ | | | | |
| ۲۵ | ایا د روژې پر معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۲٦ | ایا ته پوهېږې چې مونږ ولې روژه نیسو؟ | | | | |
| ۲۷ | ایا د فرضي روژې په اړه پوهېدلی شې؟ | | | | |
| ۲۸ | ایا د روژې ماتوونکي شیان معلوملای شې؟ | | | | |
| ۲۹ | ایا ته معلوملای شې چې په رمضان کې چا ته روژه ماتول روا دي؟ | | | | |
| ۳۰ | ایا د حج معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۳۱ | ایا ته پوهېږې چې مونږ ولې حج کوو؟ | | | | |
| ۳۲ | ایا ته پوهېږې چې په چا باندې حج فرض دی؟ | | | | |
| ۳۳ | ایا په سمه توګه اودس کولی شې؟ | | | | |
| ۳٤ | ایا په سمه توګه غسل کولی شې؟ | | | | |
| ۳۵ | ایا په سمه توګه لمونځ ادا کولی شې؟ | | | | |
| ۳٦ | ایا د اسلام دین سهولت او اسانتیا احساس کوې؟ | | | | |



څلورم فصل

# اسلامي حکمونه







## د فصل لوستونه:

١. جامې (کالي)
٢. خوراک او څښاک
٣. مالي راکړې ورکړې
٤. اخلاق (ښايسته خويونه)







## لومړی لوست

# جامې (کالي)

### پیلیزه

هغه جامې چې انسان یې اغوندي د الله تعالی له طرفه یو نعمت دی، لکه څرنگه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ يَـٰبَنِىٓ ءَادَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَٰرِى سَوْءَٰتِكُمْ وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴾ [اې د ادم اولاده! یقینا مونږ پر تاسو باندې لباس نازل کړی دی چې ستاسو د شرم ځایونه پټوي او د زینت جامې (مو نازلې کړې) او د پرهېزگارۍ لباس، دغه ډېر غوره دی، دا د الله تعالی له آیتونو څخه دي، د دې لپاره چې دوی نصیحت حاصل کړي] (الأعراف: ٢٦). او په دې درس کې به مونږ د جامو متعلق ځینې مسئلې وپېژنو.

### اصل په جامو کې:

اصل په جامو کې جواز دی، **نو په دې کې هیڅ شی حرام نه دی مگر دا چې په قرآن کریم او نبوي سنتو کې یې حراموالی بیان شوی وي.**

او اصل په معاملاتو کې چې په هغې کې جامې هم راځي جواز دی، نو هیڅ شی نه حرامېږي مگر په دلیل سره، او دلته چې د حرامو جامو کوم ډولونه بیان شوي د دې ټولو حرمت یا په قرآن کریم او یا په نبوي سنتو کې راغلي.

### بحث وکړه

د جامو له لارې کومې اړتیاوې پوره کېږي؟

.............................................................

.............................................................

.............................................................



## حرامې جامې:

**الله تعالی د جامو ځینې ډولونه حرامې کړي، چې د هغې نه دا دي:**

- هغه چې عورت ښکاره کوي او نه يې پټوي.
- او هغه چې په هغې کې د بل جنس سره مشابهت وي، لکه د سړيو جامې چې د زنانو د جامو په څير وي، او يا د ښځو جامې د سړيو د جامو په څير وي.
- او هغه چې د تکبر او لويې څرګندونه وکړي.
- او هغه چې په هغې کې اسراف او زياتی وي.
- او پر سړيو باندې د ورېښمو جامې اغوستل حرام دي، او همدارنګه په سرو زرو ځان سېنګارول هغو لره حرام دي.
- او د هر هغه څه اغوستل چې د کفارو له جامو سره مشابهت کوي، لکه د هغوی د امامانو او راهبانو جامې، د مثال په توګه.

د سړي د عورت حد د نوم څخه تر زنګون پورې دی، مګر ښځه د پردو سړيو پر وړاندې ټوله عورت ده، او د هغې د خپلوانو (محارمو) لکه پلار او زوی او ورور نو د هغوی پر وړاندې به هغه څه ښکاره کوي کوم چې د نورو زنانه و پر وړاندې ښکاره کوي لکه مخ، وېښتان، غړی، مړوندونه، او پنډی.



له خپلو ملګرو سره يې شريک کړه تر څو د جامو د ډولونو د منع کولو ځيني لاملونه وپيژنئ.

**رسول الله صلی الله علیه وسلم له نارینه وو سره د ښځو او د ښځو له نارینه وو سره له مشابهت څخه منع کړی دی، او په دې ممانعت کې د لباس ډول او د خبرو طريقه هم شامله ده، او دغه مشابهت د هغو لويو ګناهونو څخه شميرل شوی چې کوونکي يې د الله تعالی د عذاب مستحق ګرځي کله چې توبه ونه کړي، او اسلام غواړي چې د سړي طبیعت او ظاهري بڼه د ښځې له طبيعت څخه بیله وي، او همدارنګه ښځې هم داسې غواړي، نو دا د سالم فطرت او سم منطق ثبوت دی.**

## تمرين





هغه جامې مشخصې کړئ چې يوازې د نارينه وو لپاره حرامې دي، او هغه چې د نارينه او ښځينه دواړو لپاره حرامې دي:

- هغه چې د دوو جنسونو ترمنځ پکې مشابهت وي.
- هغه چې عورت ښکاره کوي او نه يې پټوي.
- هغه چې اسراف او زياتى پکې وي.
- هغه چې د تکبر او لويي څرګندونه کوي.
- کافرانو د جامو سره مشابهت.
- د وربښمو او سرو زور اغوستل.

## بحث وکړه

ايا د فيشن والو اوازونه، دودونه، رواجونه، يا د هغوى قوانين هغه اصل کيدى شي چې د نارينه يا ښځينه لپاره مناسبې جامې وټاکلى شي؟

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

۱ د حرامو جامو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه یې حراموالی اړین دی.

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

۲ سم ځواب په نښه کړئ:

■ د سروزرو اغوستل حرام دي پر:

- أ) سړو باندې.
- ب) ښځو باندې.
- ج) ماشومانو باندې.

■ په سړو باندې حرام دي:

- أ) د وړی اغوستل.
- ب) د وریښمو اغوستل.
- ج) ټول سم دي.



## دویم لوست

# خوراک او څښاک

**پیلیزه**

مسلمان خوراک او څښاک ته د الله تعالی د نعمتونو په نظر ګوري هغه چې شکر یې باید وویستل شي، او د دې د شکر څخه دا دی چې په دې باندې د عبادت کولو لپاره ځان قوي کړي، او په دې لوست کې به د خوراک او څښاک د احکامو او آدابو په اړه زده کړه وکړو او د هغو حرامو خوراکونو په اړه به هم زده کړو چې یو مسلمان باید ترې ډډه وکړي.

## اصل په خوراک او څښاک کې:

په دې کې هېڅ نه دي حرام مګر هغه چې په قرآن کریم یا په نبوي سنتو کې یې حرمت راغلی وي، الله تعالی فرمایلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا﴾ اې خلکو! له هغو شیانو نه چې په ځمکه کې دي، حلال پاک خورئ. (البقرة: ١٨٦).

## حرام خوراک او څښاک:

**الله تعالی یو ډول خواړه او څښاکونه حرام کړي چې ځینې یې دادي:**

- شراب، او دا عقل له منځه وړي، او د عقل ساتنه د اسلامي شریعت د هدفونو څخه یو هدف دی.
- نشه یې توکي: ځکه چې هغه عقل او جسد دواړه له منځه وړي.
- هغه حیوانات چې پرته له حلالولو څخه مړه شوي وي، او یا پرې د حلالولو په وخت کې د الله تعالی نوم نه وي یاد شوی.
- د خنزیر غوښه: نو دا یوه داسې نجسه غوښه ده چې خوړل یې ناروا دی.
- ښکاري حیوانات، لکه زمریان، پړانګان، بازان او عقابان.
- هغه چې باطلو معبودانو ته د نږدېکت لپاره حلال شوي وي؛ لکه بوتان.

مقاصد الشریعة (د شریعت هدفونه): دا د اسلامي علمونو څخه یو علم دی، چې د دې په وجه اسلامي حکمونه او د شریعت رازونه معلومیږي، لکه: الله تعالی ولې دا حکمونه روا کړي؟ او دا حکم د څه هدف لپاره دی؟

## د شرعي حلالي شرطونه کومې دي؟

**شرعي حلاله هغه حلالول او يا قرباني ده چې لاندې شرطونه پکې وي:**

١ ذبحه کوونکی به مسلمان يا يهودي او يا نصراني وي چې فرق کولی شي او د قربانۍ اراده ولري.

٢ چې د غوښولو آله حلالولو ته برابره وي او وينه توېوي او په تېره والي باندې غوښول کوي لکه چاقو، او د هر هغه شي استعمالول حرام دي چې حيوان په دروندوالي او د حيوان په سر د ټکر کولو سره، او يا د برقي شارټ په ژير سوځولو سره وژني.

٣ چې د الله تعالی نوم ياد کړي نو داسې ووايي: (بسم الله) کله چې خپل لاس د حلالولو لپاره خوځوي.

٤ د هغه څه پرې کول چې په حلاله کې يې پرې کول واجب دي، او هغه لکه: مرۍ او ستونې او (ودجان) دي چې دا په څټ کې دوه غټ رګونه دي، او يا په دې څلورو شيانو کې درې شيان پرې کړي.

## د سمندري حيواناتو خوړل څه حکم لري؟

هغه بحري حيوانات چې صرف په اوبو کې ژوند کوي د هغو د مړو شوو خوړل روا دي، لکه ماهيان او ربيان (يو قسم سمندري حيوانات دي) او نور، برابره خبره ده که په سمندرونو يا نهرونو او يا وړو نهرونو کې ژوند کوي.



د صحرايي نه ماتوونکو (نه داړونکو) حيواناتو ښکار او خوړل روا دي، په دې شرط چې د ښکار کولو په وخت کې يې بسم الله ووايي، او که چېرته يې ژوندی راګير کړه نو حلاله دې کړي.

## په رستورانتونو او دوکانونو کې د حلالولو حکمونه:

١ هغه چې د مسلمانانو او اهل کتابو (یهودو او نصرانیانو) نه پرته نور چا حلال کړې وي، لکه بوذیانو، هندوانو او ملحدینو نو دا حرام دي، او په دې کې هغه څه هم راځي کوم چې د هغو هیوادونو په رستورانتونو کې موندل کېږي چې اکثره خلک یې مسلمانان او اهل کتاب نه وي.

٢ هغه چې مسلمان او اهل کتابو په شرعي طریقې سره حلال کړې وي نو دا د قرآن کریم په نص باندې روا دي.

٣ هغه چې مسلمان او یا اهل کتابو په غیر شرعي طریقې سره وژلې وي لکه شارټ ورکول او په غرقولو سره نو دا حرام دي.

٤ د اهل کتابو ذبحه او هغه څه چې د هغوی په رستورانتونو کې وي په اصل کې روا دي، او د خوړلو په وخت کې باید د بسم الله په ویلو باندې ټینګار وشي، او مسلمان لره غوره دا ده چې هغه څه ونه خوري مګر چې تحقیق یې وکړي چې دا حلاله او مباحه غوښه ده.

**بحث وکړه**

**د خپلو همکارانو سره په انټرنیټ کې ځینې سایټونه وپلټئ چې ستاسو سره ستاسو په هیواد کې حلالو خوړو ترلاسه کولو کې مرسته کوي.**

.................................................................

.................................................................

.................................................................



د هغې حلالې احکام چې په دوکانونو او رستورانتونو کې پلورل کیږي د هغه چا د مذهب له مخې توپیر لري چې ذبح کړې یې دي.

## ۱

د حرامو خوراکونو او څښاکونو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه یې حراموالی اړین دی.

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

..............................................................................................................................

## ۲

کله چې یهودي او یا نصراني یو مال حلال کړ نو د هغه خوراک روا دی اګر که د الله تعالی نوم یې پرې نه وي یاد کړی.

- ○ سم
- ○ ناسم

د هغې مرې شوې ذبیحې خوړل روا نه دی چې د برق په شارټ سره وژل شوې وي.

- ○ سم
- ○ ناسم



## دریم لوست

# مالي راکړې ورکړې

### پیلیزه

د اسلام د دین عظمت دا دی چې د انساني ژوند ټول اړخونه پکې شامل دي، په دې کې د خلکو د یو بل سره د معاملو کنټرول، د هغوی د حقوقو ساتنه او د هر چا په وړاندې د ظلم مخنیوي ته پاملرنه شوی، او د دې پاملرنې د لوازماتو څخه دا دي: د هغو قوانینو او مقرراتو تصویب چې د دوی ترمنځ مالي راکړې ورکړې اداره کوي، پدې لوست کې به موږ د مالي معاملو لپاره د یو لړ احکامو او د ځینو د منع کولو د دلیلونو په اړه پوهه حاصله کړو.

## مالي راکړې ورکړې څه شی دي؟

مالي راکړې ورکړې: دا هغه معاملې دي چې پیسې په کې تبادله کیږي، که د نورو پیسو په بدل کې وي، لکه د پلور په توګه. یا د ګټې په بدل کې؛ لکه اجاره ورکول، یا پرته له ګټې؛ لکه ډالۍ.

## په مالي راکړې ورکړې کې اصل:

اصل په مالي راکړې ورکړې کې جواز دی، نو په دې کې هیڅ شي ناروا ندی مګر هغه چې په قرآن کریم او نبوي سنتو کې یې ناروا والی راغلی وي.



## ناروا مالي راکړې ورکړې:

**الله تعالی ځینې مالي راکړې ورکړې حرامې کړي، چې ځینې یې دا دي:**

- په نا حقه سره د خلکو مالونه اخیستل، لکه په چل او زور سره اخیستل.
- د یو سوداګر مجبورول په داسې معامله چې هغه یې کول نه غواړي.
- د انسان روغتیا ته د زیان رسوونکو توکو سودا کول؛ لکه الکول، نشه يي توکي، تمباکو او داسې نور.
- سود، په دې شرط د قرض ورکول چې ببرته به يې په يوه اندازه زياتي سره ورکوي، لکه د ۵٪ زیاتوالي په څیر.
- د یو مجهول شي سودا کول چې معلوم نه وي چې دا څه شی دی، لکه د داسې یو بکس پلورل چې د هغه دننه شیانو په اړه مالومات نه وي.
- قمار او شرطونه چې په هغه کې ګټونکي د بایلونکي پیسې په ناحقه اخلي.

## د مالي راکړې ورکړې د حراموالي لاملونه:

**اصلي لاملونه چې د هغو په وجه مالي معاملې حرامېږي دا دي:**




**بحث وکړه**

**د ګڼو مالي راکړو ورکړو په رڼا کې چې یو مسلمان یې په خپل ژوند کې ترسره کوي، څنګه به پوه شي چې کوم یې حلال دي او کوم یې حرام دي؟**

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

## تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه هر یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

رشوت

د شرابو خرڅول

د ضرر لرونکي موادو سودا کول

د انټرنټ له لارې د جامو اخیستل

د څښېلو اوبه خرڅول

یو چا ته په دې شرط قرض ورکول چې بېرته به ورته ۱۰٪ زیات ورکوي

هغه مسابقې چې ګډونوال یې پیسې ورکوي او بیا یې ګټونکی اخلي

حلاله مالي راکړه ورکړه:

حرامه مالي راکړه ورکړه:



سود د هغو سختو مالي راکړو ورکړو څخه دی چې اسلام یې د هغه د زیانونو له امله یې منع کړی، او دا یو له لویو ګناهونو څخه شمیرل کیږي چې پدې معامله کوونکی الله تعالی په سخت عذاب سره ګواښلی.

۱

د حرامو مالي راکړو ورکړو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو د حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه يې حراموالی اړين دی.

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................................

۲

جواري روا ده که د دواړو خواوو په رضايت سره وي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

مسلمان لره روا ده چې په سود سره قرض واخلي کله چې هغه ورته اړتيا ولري.

- ◯ سم
- ◯ ناسم



## څلورم لوست

# اخلاق (ښایسته خویونه)

### پیلیزه

اسلام خپلو پیروانو ته په ښو اخلاقو ټینګار کوي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو نبوي احادیثو کې د اخلاقو اهمیت ته لارښوونه کړې، او ډېر هغه عبادتونه چې مسلمان يې کوي او اخلاق يې سره مقايسه کړې، او خوش اخلاقه مسلمان سره په دنيا او اخرت کې د لويو بدلو وعدې شوې، په دې لوست کې به مونږ د ځينو فضيلتونو په تشريح سره په اسلام کې د اخلاقو اهميت وپېژنو.

### اخلاق په اسلام کې:

ښه اخلاق په اسلام کې لوړ مقام لري، نو دا د شريعت د هدفونو څخه يو مهم هدف دی، او همدارنګه د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د رالېږلو يو هدف هم دی، اخلاقله ايمان سره ټينګه اړيکه لري، نو په مومنانو کې هغه څوک د پوره ايمان څښتن دی چې ښايسته اخلاق ولري، مسلمان ته په نېکو اخلاقو باندې ثواب ورکول کېږي، لکه څرنګه چې په لمانځه او روژه باندې ورته ثواب ورکول کېږي.

### بحث وکړه

**د مسلمان اخلاق بايد د نورو سره څرنګه وي؟ او ايا اخلاق د اسلام په اړه د دوی په قضاوت پورې اړه لري کنه؟**

..........................................................................................

..........................................................................................

## د غوره اخلاقو فضیلت:

- پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- د هغه څه په اړه خبر ورکړئ چې ډیری خلک به د هغه په وجه جنت ته ننوځي چې هغه: د الله تعالی څخه وېره او ښایسته اخلاق دي.
- او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د قیامت په ورځ د انسان په ترازو کې تر ټولو درنه نیکي: ښایسته اخلاق دي.
- او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د قیامت په ورځ هغه ته په مرتبه کې نږدې هغه مومن دی چې: په ټولو کې یې اخلاق ښایسته وي.

د انسان ترازو: دا به د قیامت په ورځ وي کله چې به د انسان نیکۍ او بدۍ په یو خاص ترازو باندې تلل کېږي چې هېڅوک د هغه شکل او اندازه نه پېژني، نو چې د چا د نېکیو تله درنه شوه هغه به جنت ته ننوځي او د چا چې د ګناهونو تله درنه شوه نو هغه به اور د جهنم ته ننوځي.

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تراو له مخې کېږدئ:

- مسلمان ته خندا (مسکا)
- خشوع (عاجزي)
- د لارې نه د ضررې خیز لرې کول
- رېښتیا
- امید
- د بل سره مرسته کول
- د خیر په کارونو کې مرسته کول

له نیکو اخلاقو څخه:

د زړه له عبادتونو څخه:

## په اسلام کې د اخلاقو ځایونه:

**په اسلام کې د اخلاقو یو ځای نه دی، بلکې ډېر ځایونه لري، او هغه دا دي:**

- د الله تعالی سره اخلاق، لکه د الله تعالی نه وېره او هغه ته په عملونو کې اخلاص.
- د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره اخلاق، لکه د هغه سره مینه او د هغه د یادولو په وخت کې ادب، او د هغه د نوم یادېدو په وخت کې په هغه باندې درود ویل.
- د شریعت سره اخلاق، لکه د شریعت مسئلو ته غاړه کېښودل او د هغو احترام کول.
- له ځان سره اخلاق؛ لکه په نېکۍ کولو کې د ځان سره نرمي کول، او د سستۍ نه په منع کولو کې په ځان ټینګتیا.
- د نورو سره اخلاق، لکه رېښتیا او امانتداري.
- د حیواناتو سره اخلاق، لکه د هغوی ساتنه او د وهلو او ازارولو نه یې ځان ساتل.
- د چاپېریال سره اخلاق، لکه له ورانولو څخه یې ساتل، د ونو کېنول، او د هغې په نعمتونو کې زیاتی نه کول.

اضافي مطالعه

د دې لپاره چې د اسلام د اخلاقو او فضایلو په اړه ډېر مالومات ترلاسه کړئ، او د هغه اثر په انسانانو باندې نو دا کتاب ولوله: (الإسلام دین السلام) اسلام د سلامتیا دین دی، کوم چې د اصول په پلې ستهور کې په مختلفو ژبو شتون لري.

د کتاب د ډاونلوډ کولو لپاره دا بارکوډ سکن کړئ



اخلاق په اسلام کې یواځې د انسانانو سره په چلند کې محدود نه دی، بلکې د چاپېریال او حیواناتو سره په چلند پورې هم اړه لري.

۱ د دې کليپ په کتلو سره: (The beauties of Islam) د اسلام ښکلاوې، بيان کړه چې اسلام د انسانانو معنوي او اخلاقي اړتياوې تر کومه حده پوره کوي.

د ويډيو کليپ لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

..........

۲ يو نبوي حديث بيان کړه چې د ښو اخلاقو په فضيلت باندې دلالت کوي.

..........

۳ په اسلام کې اخلاق يواځې انسانانو سره په تعامل کې محدود دی.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

# شخصي ارزونه

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ١ | ايا تاسو کولی شئ شرحه کړئ چې اصل په جامو کې څه دی؟ | | | | |
| ٢ | ايا حرامې جامې دې وپېژندلې؟ | | | | |
| ٣ | ايا پوه شوې چې په خوراک او څښاک کې اصل څه دی؟ | | | | |
| ٤ | ايا حرام خوراکونه دې وپېژندل؟ | | | | |
| ٥ | ايا حرام څښاکونه دې وپېژندل؟ | | | | |
| ٦ | ايا ودې پېژندل چې په مالي راکړه ورکړه کې اصل څه دی؟ | | | | |
| ٧ | ايا ناروا مالي راکړه ورکړه دې وپېژندلې؟ | | | | |
| ٨ | آيا تاسو د اسلام اسانتيا او سهولت احساس کوئ؟ | | | | |

# پای

**په پایله کې نوي مسلمان ته د لاندې ټکو سپارښتنه کوو:**

- له خپل دين څخه د هغه څه په زده کولو ټينګار چې اړتيا ورته لري، او بايد په هغه کې د معتبرو منابعو پلټنه وکړي، که هغه علماء وي او که داعيان وي، کتابونه او حوالې وي او که صوتي يا ويډيويي مواد وي.
- په علم باندې عمل کول، نو په مسلمان باندې لازم دی چې کوم ګټور علم يې ياد کړی وي بايد عمل پرې وکړي.
- په علم او عمل کې تدريجي پرمختګ، نو د علم حاصلول، د ښو اخلاقو خپلول او د عبادت ترسره کول يو انسان ته په يو وخت نه شي حاصلېدلی، بلکې يو په بل پسې يې ترلاسه کوي.
- د هر هغه څه څخه ځان ساتل چې په ايمان منفي اغيزه کوي، که هغه شکونه وي او يا خواهشات.
- په دوامداره توګه له الله تعالی څخه د حق لار موندلو غوښتل، او د حق څخه د باطل توپير کول.
- اسلامي احکام له توانايي سره تړلي دي، نو مسلمان له هغو څخه هغه څه کوي، چې په وس کې يې وي، پرته له دې چې په خپل ځان باندې هغه څه بار کړي، چې په وس کې يې نه وي.
- د صالحو مسلمانانو د ملګرتيا په لټه کې واوسئ چې د هغه په ايمان او نيکۍ کې زياتوالی راولي، او د نورو د خواهشاتو او شکمنو خلکو سره له ناستو څخه ډډه وکړي.

# وروستۍ ازموینه

نوم:

اخرنۍ نمرې: / ٤٠ نمرې

## أ. د راتلونکو جوابونو څخه سم ځواب په نښه کړئ: ١٥ نمرې

١ الله تعالی په انسان کې د څه شي په شان مشابهت ګرځولی:

- ملايکو
- شيطانانو
- چارپايانو
- ټول سم دي

٢ د انسان اصلي پیداښت د څه شي څخه دی:

- اوبه
- خټه
- اور
- تيږه

٣ اسلام وايي چې انسانيت د هغوی د پلار څخه شروع شوی:

- إبراهيم
- عيسی
- آدم
- محمد

٤ کله چې يو انسان مړ شي هغه يو بل پړاو ته ځي:

- کار او ازموينه
- بدله او حساب کتاب
- نشت او ختمېدل
- ټول سم دي

٥ د محمد صلی الله د پيغمبرۍ نه وروسته الله تعالی د انسان نه هېڅ دين نه قبلوي مګر يو دين چې هغه:

- يهوديت دی
- نصرانيت دی
- اسلام دی
- هندوييزم دی

٦ د اسلام د رکنونو شمير:

- ٣ دي
- ۴ دي
- ۵ دي
- ٦ دي

۷ الله تعالی په قرآن کریم کې خبر ورکړی چې هغه ټول ګناهونه بخښي که یې خوښه شي پرته له:

- قتل
- غلا
- شرک
- دروغ

۸ مسلمان چې د قرآن کریم هر یو حرف لولي نو هغه لره په دې باندې:

- یوه نیکي ده
- دوه نیکیاني دي
- اوه نیکیاني دي
- لس نیکیاني دي

۹ د قرآن کریم له نومونو څخه :

- الذکر
- الفرقان
- الکتاب
- ټول چې تېر شول

۱۰ د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ﴾ کې د ﴿كُفُوًا﴾ معنا، یعنې:

- پوره
- معبود
- هم سیال
- یوازې

۱۱ د ﴿ٱلۡفَلَقِ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې : ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ﴾ یعنې:

- د شپې تیاره
- د سپوږمۍ راختل
- د سبا راختل
- د لمر زوال

۱۲ د ﴿أَعُوذُ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ یعنې:

- زه پناه غواړم
- بنده ګي کوم او نږدې کیږم
- ثنا وایم او یادوم
- تسلیمیږم او غاړه ږدم

۱۳ د ﴿ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ﴾ یعنې:

- جادوګر
- حسد کوونکی
- شیطان
- کافر

١٤ د (شائنک) معنی د الله تعالی په دې وینا کې: (إن شانئك هو الأبتر) یعني:

- ستا سره کرکه کوونکی
- ستا سره مینه کوونکی
- په تا باندې ایمان لرونکی
- ستا نه مخ اړوونکی

١٥ د بدني عبادتونو شخه:

- مینه
- امید
- لمونځ
- ټول سم دي

ب. راتلونکې کلمې د دوی د سمو ډلو له مخې طبقه بندي کړئ: ٨ نمرې

طواف

لمونځ | خوراک

قبلې ته مخ کول

د تشو متیازو وتل | د عورت پټول

خبنل | خوب

د اوداسه واجبوونکي شیان:

د لمانځه شرطونه:

د اوداسه ماتوونکي شیان:

د روژې ماتوونکي:

ج. لاندې د اوداسه اعمال ترتیب کړئ، له لومړي سره يې پیل کړئ: ٦ نمرې

| پە سر باندې مسح کول | د مرونډونو پورې د لاسونو مینځل | د مخ مینځل | د پښو مینځل | د غوږونو مسح کول | خولې او پوزې ته اوبه اچول |
|---|---|---|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٤ | ٥ | ٦ |

د. راتلونکي د لمانځه اعمال ترتیب کړئ، له لومړي سره يې پیل کړئ: ٦ نمرې

| د الحمد لله لوستل | رکوع | تحریمه تکبیر | سلام | د التحیات ویل | سجده کول |
|---|---|---|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٤ | ٥ | ٦ |

هـ. د سمو جملو مخې ته د (سم) نښه، او ناسمو جملو مخې ته (ناسم) کېږدئ: ٥ نمرې

١. مسلمانان د حج عبادت د رمضان المبارک په میاشت کې ترسره کوي. ( )

٢. په مسلمانانو نارینه وو باندې د سرو زرو اغوستل ناروا دي. ( )

٣. مسلمانانو لره روا ده چې د خنزیر غوښه وخوري. ( )

٤. په مالي راکړه ورکړه کې اصل جواز او روا والی دی. ( )

٥. په مسلمانانو کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو نږدې د قیامت په ورځ هغه څوک دی چې اخلاق يې ښایسته وي. ( )

مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com

Pashto -بشتو



مونږ خوښ یو چې تاسو ته دا کورس وړاندې کوو چې ریښتینی دین (د اسلام دین) معرفي کوي او د هغه علمي او عملي اړتیاوې بیانوي، د دې لپاره چې ستا د دین په پېژندلو کې ستا لپاره چابې او د اسلام د احکامو په پلي کولو کې درسره مرسته کوونکی شي. دا کورس تاسو ته دا شیان وړاندې کوي:

١- د اسلام د دین او لویو اړینو موضوعاتو په اړه یې لنډ وضاحت.

٢- قرآن کریم ته یوه عمومي کتنه، او د قرانکریم د ځینو لنډو سورتونو د معناګانو تفسیر.

٣- د فرضي عبادتونو د احکامو لنډ تشریح.

٤- په اسلام کې د معاملاتو، رواجونو او اخلاقو په اړه د مهمو احکامو لنډ توضیح.

د دې درسي فصلونه د تعلیمي پلان له مخې ویشل شوي چې د هر فصل درسونه شپږو ورځو باندې ویشل شوي، د هر درس موده ټاکل شوې ده. دا مضمون په یوه تعلیمي بڼه هم جوړه شوې ده چې یو شمیر فعالیتونه او تمرینونه پکې شامل دي، کوم چې د نوي مسلمان سره د معلوماتو د یادولو او په هغې باندې پوهېدلو کې مرسته کوي، سربېره پر دې د هر درسي فصل په پای کې د ارزونې پوښتنې دي ترڅو زده کونکي وکولی شي د هغه د پوهې کچه و ارزوي. په دې مضمون کې یو شمیر بڼې شاملې دي چې هدف یې د نوي مسلمان د تعلیمي پروسې په ښه کولو او د کورس په پوهیدو کې مرسته کول دي.


osoulcenter

www.osoulcontent.org.sa

ISO 9001

International Organization for Standardization

په بیلابیلو ژبو کتابونه او داسې نور راښکته کول

OSOUL STORE

osoulstore.com